# عقيدة الطحاوی

د اهل سنت او جماعت عقيده د اسلامي امت د فقهاوو حضرت امام اعظم ابوحنيفه، قاضي القضات امام ابويوسف
يعقوب بن ابراهيم الانصاري او امام محمد بن حسن شيباني رحمة الله عليهم د مذهب پر بنسټ
او د اسلام د ستر محدّث، فقيه او مجتهد
حضرت امام ابوجعفر طحاوي حنفي متوفى ٣٢١ هجري قمري په روايت سره

## د دری ژبې ژباړونکی

## مفتی محمد ابراهيم تيموري

# پښتو ژباړه

## مولوي ميرآغا ستانکزی او مولوي فريد احمد علمي

*(*)*

ددی کتاب چاپ او خپرول په دې شرط سره چي په متن کي کوم تغيير رانشی، ټولو مسلمانانو ته عامه اجازه ده

تاسو کولائ شئ د دې کتاب نوي چمتو شوي متن د PDF په بڼه زمونږ له دې ويب پاڼي څخه ترلاسه کړئ:
www.afghanicc.com/books

يا له دې(email) پتې څخه يې ترلاسه کړئ:
miteymori@gmail.com
miraghastanikzai@gmail.com
او يا د هيواد څخه بهر له دې تيليفوني شميرو سره اړيکه ونيسئ:
٠٠٤٤٧٧٧٦٠٠٣١٣٧
٠٠٤٤٧٨٨٦٧٠٧٩٢٧

www.Taleemulislam-Radio.com

*(*)*

بسم الله الرحمن الرحيم
**(( د دري ژبې د ژباړونکي سريزه))**
*(*)*

الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى، اما بعد!
نړدې دولس سوه کاله کيږي چې دا کتاب «عقيده طحاويه» د اسلام د حقه څلورګونو مذاهبو حنفي، مالکي، شافعي، او حنبلي تر منځ چې د عقيدې په هکله د اهل سنت والجماعت تر ټولو مهم او معتبر کتاب دی، د اسلامي عقايدو له لومړنيو منابعو او مراجعو څخه ګڼل کيږي.
د شافعي مسلک يو نامتو عالم امام تقي الدين سبکي رحمه الله (م٧٧١ هـ ق) ليکي: «څلور ګوني مذاهب چې حنفيه، مالکيه، شافعيه او حنابله دي ټول د الله تعالى په فضل سره په عقايدو کې سره يو دي، او ټول د اهل سنت والجماعت په عقيده باندې باور لري، او د امام ابو الحسن اشعري رحمه الله [او امام ابو منصور ماتريدي رحمه الله] په اعتقادي طريقه د الله تعالى عبادت کوي، او ټول پدې عقيده ټينګ ولاړ دي، پرته له څو محدودو حنفيانو او شافعيانو څخه چې له معتزليانو سره يو شول، او پرته له څو حنبليانو څخه چې د مُجَسّمَه وو په عقيده ملوث شول، او مالکيان الله تعالى لدې عقيدې څخه پاک وساتل، مونږ هيڅ داسې مالکي مذهبې نه پيژنو چې په داسې ناوړه عقايدو اخته شوې وي.
لنډه دا چې د امام ابو الحسن اشعري رحمه الله [او امام ابو منصور ماتريدي رحمه الله] عقيده هغه ده چې پدې کتاب «عقيدة الطحاوي» کې ځای پر ځای شوې ده، او د اهل سنت والجماعت د څلور ګونو مذاهبو علماو هغه د خپلې عقيدې په توګه منلې دي، او په هغه باندې راضي دي». معيد النعم ومبيد النقم: ۶۲ مخ؛ او پر عقيدة الطحاوی باندی د امام عبد الغنی ميدانی رحمه الله شرحه: له ٢٧- ٢٨ مخونو پورې.

*(*)*

«عقيدة الطحاوي» د احنافو د ماتريدي عقيدوي مسلک يو اصلي ماخذ دی، ځکه چې امام طحاوي رحمه الله د دې مضامين په کلي توګه د دې مسلک له بنسټ ايښودونکو څخه چې سراج الامة و امام الائمة امام اعظم ابو حنيفه نعمان بن ثابت رحمه الله تعالى دی روايت کړي دي.

*(*)*

امام ابو جعفر طحاوي رحمه الله په (٢٣٩هـ ق) کال کې د مصر په «طحا» نومي کلي کې زيږيدلی دی، او په (٣٢١هـ ق) کال کې په همدې ځای کې وفات شوی دی.
داسې نه چې امام طحاوي رحمه الله يوازې د حديث له نوميالیو حافظانو څخه ؤ، بلکه هغه د فنونو، فقهې او حديث له سترو امامانو څخه هم ؤ، هغه په داسی عصر کی ژوند کاوه چې له يوې خوا د فقهی او حديث علم د پرمختګ لوړو څوکو ته رسيدلی وو او له بلی خوا د اهل سنت والجماعت د فقهي مذاهبو زده

کوونکو خصوصاً د حنفي مسلک شاګردانو په ټوله نړۍ کې د فقهې د علومو تعلیم او تدریس خور کړی ؤ او تر ټولو زیات مشهور محدثین د خپلو لیکل شوو کتابونو په لیکلو بوخت ؤ.
علامه محمد زاهد کوثري رحمه الله د عمدة القاري في شرح صحیح البخاري له لیکونکي امام بدر الدین عیني رحمه الله متوفي (٨٥٥ هـ ق) څخه نقل کوي چه داسی یی فرمایلي دي:
«کله چې امام احمد (رح) وفات شو امام طحاوي (١٢) کلن ؤ، او کله چې امام بخاري (رح) وفات شو امام طحاوي (٢٧) کلن ؤ، او کله چې امام مسلم (رح) وفات شو امام طحاوي (٣٢) کلن ؤ، کله چې امام ابن ماجه (رح) وفات شو امام طحاوي (۴۴) کلن ؤ، او کله چې امام ابو داود (رح) وفات شو امام طحاوي (۴۶) کلن ؤ، او کله چې امام ترمذي (رح) وفات شو امام طحاوي (٥٠) کلن ؤ، او کله چې امام نسائي (رح) وفات شو امام طحاوي (٧۴) کلن ؤ چی امام طحاوي ددې نامتو او مشهورو علماوو له مشایخو څخه د حدیثونو زده کړه او روایت کړی دی.

*(*)*

امام طحاوي رحمه الله په داسې کورنۍ کې سترګې پرانیستي دي چې هم د دنیایي حیثیت له مخې سیال داره کورنی څخه وه، او هم په دیني حیثیت سره یی لوړ مقام او منصب درلودی.
د امام طحاوي رحمه الله کورنۍ شافعي مذهبه وه، مور یې د شافعي مسلک ستره عالمه او ماما یې امام مُزَني رحمه الله د امام شافعي رحمه الله له مشهورو شاګردانو څخه ؤ. چې د امام شافعي رحمه الله د مړینې څخه وروسته د شافعي مسلک له سترو عالمانو څخه ګڼل کیده.
امام طحاوي رحمه الله د لومړنیو زدکړو له بشپړیدلو څخه وروسته خپلې ثانوي زدکړې له خپل درانه ماما امام مزني سره پای ته ورسولې، خو ډېر ژر یې د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله مسلک ته زړه مایل شو، او دا میلان هغه وخت په خورا ډېرېدلو شو چې امام طحاوي رح خپل ماما لیده چې د مغلقو او پیچلو مسایلو سره د مخامخ کیدو پر مهال به یې د امام اعظم رحمه الله د دوو هغو سترو شاګردانو کتابونو ته مخه کوله چې د امام صاحب مسلک یې لیکلی ؤ، چې یو یې امام ابو یوسف رحمه الله او بل یې امام محمد بن حسن شیباني رحمه الله ؤ، او دا میلان د دې لامل شو چې امام طحاوي رحمه الله د حنفي مسلک کتابونه ولولي، او د دې لوست په لړ کې د هغه زړه د امام صاحب رح په مذهب پورې وتړل شي، چې بلاخره یې په بشپړه توګه حنفي مسلک خپل کړ.
امام طحاوي رحمه الله په فقه کې د داسې ځلانده مقام خاوند شو چې نن سبا یوازې دا نه چې د فقهې له سترو عالمانو څخه ګڼل کیږي، بلکه د اسلام له سترو مجتهدینو څخه هم بلل کیږي. علامه علی قاري هروي رحمه الله او علامه ابن عابدین شامي رحمه الله امام طحاوي د امام ابو الحسن کَرْخي، او شمس الائمه سَرَخْسي او فخر الاسلام بَزْدَوي او فخر الدین قاضي خان او داسې نورو امامانو په شان د مجتهدینو په دریمه طبقه کې بللي دي.
حضرت شاه عبد العزیز دِهْلَوِي او مولانا عبد الْحَیّ لَکْنَوِي او علامه زاهد کوثري رحمهم الله هغه د قاضي القضات امام ابو یوسف او امام محمد بن الحسن شَیْباني په شان د مجتهدینو له دوهمې طبقې څخه بولي.
څرنګه چې امام زاهد کوثري له علامه ابن عبدالبرّ مالکي څخه نقل کړی دی امام طحاوي یوازې په حنفي فقه کې نه بلکه په ټولو فقهي مذاهبو کې بشپړ مهارت درلود چې د هغه د «اختلاف الفقهاء» کتاب پدې خبره عادل ګواه دی. څرنګه چې وویل شول امام طحاوي یوازې د حدیث له سترو حفاظو څخه نه ؤ، بلکه د حدیثو په علومو کې د داسې لوړ مقام خاوند دی چې د هغه نظریې د حدیثو په ډول ډول فنونو کې

ستر اعتبار لري، او د حديث علوم د هغه له اقوالو او رايو څخه خالي نه موندل کيږي. چې د «شرح مشکل الآثار» او «شرح معاني الآثار» کتابونه د دې خبرې غوره شاهدان دي.

*(*)*

**د امام طحاوي ځيني کتابونه:**

(*) كتاب فى النحل واحكامها واجناسها وصفاتها وَمَارُوِىَ فيها من خبر.(عقائد)
(*) شرح معاني الآثار. (حديث)
(*) شرح مشكل الآثار. (حديث)
(*) التسوية بين حدثنا و اخبرنا. (حديث)
(*) المشكاة. (حديث)
(*) صحيح الآثار. (حديث)
(*) نقض كتاب المدلّسين للكرابيسي. (حديث)
(*) الرد على ابي عبيدة في كتاب النسب. (حديث)
(*) كتاب تفسير متشابه الاخبار. (حديث)
(*) المختصر الكبير فى الفقه. (فقه)
(*) المختصر الصغير. (فقه)
(*) اختلاف الفقهاء. (فقه)
(*) شرح جامع الصغير لمحمد بن الحسن الشيباني. (فقه)
(*) الوصايا. (فقه)
(*) الفرائض. (فقه)
(*) النوادر الفقهية. (فقه)
(*) حكم اراضي مكة. (فقه)
(*) قسمة الفئ والغنائم. (فقه)
(*) اختلاف الروايات على مذهب الكوفيين. (فقه)
(*) شرح الجامع الكبير لمحمد بن الحسن الشيباني. (فقه)
(*) كتاب الاشربة. (فقه)
(*) الجزء فى الرزية. (فقه)
(*) الشروط الصغير. (فقه)
(*) الشروط الاوسط. (فقه)
(*) الشروط الكبير. (فقه)
(*) كتاب الخطابات. (فقه)
(*) احكام القرآن. (تفسير)
(*) تفسير القرآن. (تفسير)
(*) نوادر القرآن. (تفسير)
(*) التاريخ الكبير. (تاريخ)
(*) عقود المرجان في مناقب ابي حنيفة النعمان. (د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله ژوند ليک)
(*) النوادر والحكايات. (تاريخ)

(*) اعتقاد اهل السنة والجماعة على مذهب فقهاء الملة ابي حنيفة النعمان ابن ثابت الكوفي وابي يوسف يعقوب بن ابراهيم الانصاري و ابي عبد الله محمد بن الحسن الشيباني رضوان الله تعالى عليهم اجمعين، چې د «**عقيدة الطحاوي**» په نامه مشهور دی. (عقايد)

*(*)*

د اعتقاد اهل السنة والجماعة على مذهب فقهاء الملة ابي حنيفة النعمان ابن ثابت الكوفي وابي يوسف يعقوب بن ابراهيم الانصاري و ابي عبد الله محمد بن الحسن الشيباني رضوان الله تعالى عليهم اجمعين كتاب چې د «**عقيدة الطحاوي**» په نامه مشهور دی که څه هم د حجم په لحاظ وړوکی دی خو ټولې هغه مهمې عقيدې چې په هغو باندې پوهيدل پر هر يوه مسلمان باندې حتمي او لازمي دي پدې وړوکي کتاب کې په ښکاره بڼه او په فصيحو الفاظو ځای پر ځای شوې دي.
پدې کتاب کې هغه عقيدې شاملې دي چې د اسلام د سپيڅلی دين له اصلي ماخذونو يعنې قرآن مجيد، متواتر او مشهور احاديث، او د امت له اجماع څخه استنباط شوې دي، او ټول صحابه کرام، تابعين عظام، او د اهل السنة و الجماعة د څلور ګونو مذاهبو امامان او د هغوی ټول لارويان پر دې عقايدو اتفاق لري، او د روافضو، متعزله وو، مُجَسّمَه وو، مَشَبّهَه وو په شان د اهل بدعت او ضلالت لار ورکې ډلې پدې کې له يادو شوو عقايدو سره مخالف دي.

*(*)*

د «**عقيدة الطحاوي**» پښتو ژباړه پدې هيله چاپ ته وړاندې شوه چې پښتانه لوستونکي د اهل سنت و الجماعت متواتره او متوارثه عقيده زده کړي، او خپل عقايد او ايمانيات هم دا شان جوړ کړي، او پدې توګه خپل اعتقادات د دې زماني د بدعتيانو او لار ورکو ډلو لکه مُجَسّمَه، مُشَبّهَه او داسې نورو له اوهامو، تلبيساتو او تزويراتو څخه خوندي او لرې وساتي ترڅو د دواړو جهانونو کاميابي او سعادت ومومي. هيله ده چې الله تعالى دا له نشت سره برابر ناڅيزه کوښښ په خپل فضل او مرحمت سره ومنې، او د پښتنو ورونو عام او خاص تربڼه مستفيد کړي. دا زما د ستر پالونکي (ج) فضل دی چې ماته يې توفيق را ښبلی لکه چې په هر نعمت کې يې د رحمت وړانګې داسې ځليږي چې نورو ويناوو ته اړتيا نلري.

*(*)*

په وروستي پړاو کې د يادونې وړ ده چې ښه به دا وي چې دا کتاب د کوم معتبر عالم د نظر لاندې په تدريسي توګه ولوستل شي، ځکه چې د دې کتاب ځنې مضامين، د اصطلاحاتو شرح او د ځنې لار ورکو ډلو د عقيدې او تاريخ پيژندنه تدريس او معلوماتو ته اړتيا لري.

د ۱۴۳۵ هجري قمري کال د ذی العقدې مياشت چې د ۱۳۹۳ هجری لمريز کابل د ميزان له مياشتې او د ۲۰۱۴ عيسوي کال د اکتوبر له مياشتې سره سمون لري.

د دري ژبې ژباړونکی مفتي محمد ابراهيم تيموري

**بسم الله الرحمن الرحيم**

*(*)*

هَذا ما رَواهُ الإِمامُ أَبو جَعْفَرٍ الطَّحاوِيُّ في ذِكْرِ بَيانِ: **اِعْتِقادِ أَهْلِ السُّـنَّةِ وَالجَماعَةِ عَلَى مَذْهَبِ فُقَهَاءِ المِلَّـةِ أَبيْ حَنِيفَةَ النُّـعْمانِ** بْنِ ثـابِتٍ الكُوفِيِّ، **وَ أَبيْ يُوسُفَ** يَعْقُوبَ بْنِ إِبْراهِيمَ الأَنْصَارِيِّ، وَ أَبيْ عَبْدِ اللّٰهِ **مُحَمَّدِ بْنِ الحَسَنِ الشَّيْبـانِيِّ** رِضْوَانُ اللّٰهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعين، وَ مَا يَعْتَقِدُونَ مِنْ «أُصُولِ الدِّينِ» وَ يَدِينُونَ بِـهِ لِرَبِّ العَالَمِينَ.

**قَالَ اْلإِمَامُ وَ بِهِ قَالَ اْلإِمَامَانِ المذكورَانِ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالَىٰ: نَـقُوْلُ** في تَوْحيدِ اللّٰهِ مُعْتَقِدينَ، بِتَوْفيقِ اللهِ تَعالي:

**بسم الله الرحمن الرحيم**

*(*)*

دا هغه ټولګه «مجموعه» ده چې امام ابو جعفر الطحاوي د اهل سنت والجماعت دلې د اعتقاداتو [1] د روښانولو په هکله د ملت د فقهاوو په مذهب له امام اعظم ابو حنيفه نعمان بن ثابت کوفي، امام ابو يوسف يعقوب بن ابراهيم انصاري او امام ابو عبد الله محمد بن حسن شيباني رضوان الله تعالى عليهم اجمعين څخه روايت کړی دی، کوم چې هغوی د دين له اصولو [2] څخه راخيستي او پرې باور لري، او د همدې عقيدی او باور پر بنسټ د عالميانو د پالونکي عبادت کوي.

امام اعظم ابو حنيفه رضي الله عنه او همداسې دوه پورتني ذکر شوي امامان رحمهما الله تعالى دده د عقايدو سره په موافقت کې داسې فرمايلي دي؛ مونږ په داسې حال کې چې د الله تعالى په يو والي باور لرو د هغه په توفيق سره وايو چې:

**(١) ـ إِنَّ اللّٰهَ تَعالى وَاحِدٌ لا شَرِيكَ لَهُ،**

**(١) ـ** الله تعالى يو دی او هيڅ شريک او سيال نلري.

**(٢) ـ وَلا شَيْءَ مِثْلُهُ،**

**(٢) ـ** او هيڅ شی د هغه تعالى په شان ندی.

---

[1] اهل سنت والجماعت يا د اسلام سواد اعظم د مسلمانانو په څوارلس سوه کلن تاريخ کې د مسلمانانو قاطع اکثريت ته ويل کيږي، د لومړۍ او دوهمې پيړۍ مسلمانانو دا نوم د خپل ځان لپاره غوره کړی دی تر څو چې د خوارجو، روافضو او معتزلو او داسې نورې باطله او ګمراهو ډلو څخه وپيژندل شي، دا لقب له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت شوی دی، د امام سيوطي رحمه الله د دُرّ منثور د تفسير د ٢ ټوک په ٢٩١ مخ او د ابن کثير د تفسير د ٢ ټوک په ٩٢ مخ کې ددی آيت **يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ...** (آل عمران: ١٠٦) د لاندينی برخې تفسير وګورئ.

**اهل:** پيروان. **سنت:** د رسول الله او د راشدينو خلفاو ابوبکر صديق،عمر فاروق، عثمان ذي النورين، علي رضوان الله عليهم اجمعين ديني طريقې ته سنت وايي. او له **جماعت** څخه مراد: د اصحابو کرامو، تابعينو، او تبع تابعينو، او د مجتهدينو امامانو جماعت دی.

[2] د ديني علومو هغه شعبه چې عقايد څيري، او د علم عقايد،[علم فقه اکبر]، علم اصول الدين، د توحيد او صفاتو علم، او د کلام علم باندې نومول شوې ده. په العقيدة الطحاوية باندې د امام ميداني د شرحې ۴۶ مخ.

**(٣) ــ وَلا شَيْءَ يُعْجِزُهُ،**
**(٣) ــ** او داسې هيڅ شئ نشته چې هغه تعالى له خپلې ارادې څخه عاجز (ناتوانه) کړي.

**(٤) ــ وَلا إِلٰهَ غَيْرُهُ،**
**(٤) ــ** او پرته له هغه څخه بل هيڅ کوم خداى (معبود) نشته.

**(٥) ــ قَدِيْمٌ بِـلا ابْتِدَاءٍ،**
**(٥) ــ** پرته له پيل (ابتدا) څخه قديم دي.[1]

**(٦) ــ دَائِمٌ بِـلا انْـتِهَاءٍ،**
**(٦) ــ** پرته له پاى (انتها) څخه تل پاتې (دايم) دى.

**(٧) ــ لا يَفْنَى وَلا يَبـِيدُ،**
**(٧) ــ** نه فاني کيږي او نه له منځه ځي.

**(٨) ــ وَلا يَكُونُ إِلّا مَا يُرِيدُ،**
**(٨) ــ** نه واقع کيږي مګر هغه څه چې دى يې وغواړي.

**(٩) ــ لا تَبْلُغُهُ الأَوْهامُ، وَلا تُدْرِكُهُ الأَفْهامُ،**
**(٩) ــ** وهم او خيال هغه ته نه رسيږي، او نه يې پوهه موندلى شي.

---

[1] د الله تعالى او همداسى د الله تعالى د ذات او صفاتو په هکله د **قديم** د لفظ اطلاق د امت له اجماع څخه ثابت دي، او د امت اجماع له شرعي دلايلو څخه دى، د علامه تفتازاني د شرح العقايد: ٣٩ مخ، او د قطان رحمه الله د الاقناع في مسايل الاجماع د لمړى ټوک ٣٨ مخ.
او د الله تعالى په هکله د قديم د لفظ اطلاق په صحيح حديث سره هم ثابت شوى دى، لکه څرنګه چې امام ابو داود د خپلو سننو د کتاب په ۴۶۶ نمبر حديث کې روايت کړى دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپله دعاء کې داسې ويل: أَعُوذُ بِاللهِ الْعَظِيمِ، وَ بِوَجْهِهِ الْكَرِيمِ، وَ سُلْطَانِهِ الْقَدِيمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ.
د قديم لفظ د نبوي احاديثو په ګڼو کتابونو کې د اسماء الحسنى په کتار کې هم راغلى دى، د مثال په توګه: د حاکم په مستدرک کې ۴۳ نمبر حديث، په اسماء او صفاتو کې د لمړي ټوک په ۳۲ مخ کې لسم نمبر حديث، د اعتقاد د لمړي ټوک په ۵۱ مخ کې او د بيهقى د دعوات الكبير د لمړي ټوک په ۱۲۹مخ کې ۶۸ نمبر حديث او د ابن حجر عسقلاني د اسماء الحسنى د تخريج په ۱۴مخ کې، د ابو نعيم د لله تسعة وتسعون اسماء د کتاب په ۱۸ او ۲۵ او د مقدسي د المنتقي من مسموعات مرو د کتاب د ۶۲ مخ په ۷۷ او ۱۱۵ حديث او داسې نورو کتابونو کې ...
همدارنګه د دې لفظ اطلاق له سلف صالحينو څخه هم ثابت دى، څرنګه چې امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د خپل کتاب «الفقه الاكبر» په ۴ مخ کې ياد کړى دى، او امام طحاوي هم د دې لفظ اطلاق د امت له درې ګونو فقهاو امام ابو حنيفه، قاضي القضات امام ابو يوسف او امام محمد شيباني رحمهم الله) څخه د دې کتاب په متن کې روايت کړى دى.
لالکائي هم د خپل کتاب کرامات الاولياءپه: ۲۴۸/۹ کې روايت کړى دى چې مالک بن دينار رحمه الله (متوفى ۱۳۰ هـ) به په خپله دعاء کې داسې ويل: **يا ذا المن القديم**، او امام ابو جعفر طبري هم د خپل تفسير د لمړي ټوک په ۲۶ مخ کې او دا رنګه د خپل تاريخ د لمړي ټوک په ۲۸ مخ کې يې هم د قديم لفظ په صريحه توګه راوړى دى.

**(١٠) ـ وَلا تُشْبِهُهُ الأَنَامُ،**
**(١٠) ـ** هيڅ مخلوق د هغه سره ورته والی (شباهت) نشي لرلی.

**(١١) ـ حَيٌّ لا يَمُوتُ، قَيُّومٌ لا يَنَامُ،**
**(١١) ـ** داسې ژوندی دی چې هيڅ کله نه مړ کيږي، او داسې قيّوم دی چې هيڅ کله هم نه بيديږی.

**(١٢) ـ خَالِقٌ بِلا حَاجَةٍ، رَازِقٌ لَهُمْ بِلا مُؤْنَةٍ،**
**(١٢) ـ** له کومې اړتيا څخه پرته پيدا کونکی دی، او پرته له (تکليف او کوم مشقت) څخه هغوی ته د رزق ورکوونکی دی.

**(١٣) ـ مُمِيْتٌ بِلا مَخَافَةٍ، بَاعِثٌ بِلا مَشَقَّةٍ.**
**(١٣) ـ** له کومې وېرې پرته مړ کوونکی دی، او پرته له کوم مشقت څخه بيا را ژوندی کوونکی دی.

**(١٤) ـ مَازالَ بِصِفَاتِهِ قَدِيماً قَبْلَ خَلْقِهِ، لَمْ يَزْدَدْ بِكَوْنِهِمْ شَيْئاً لَمْ يَكُنْ قَبْلَهُمْ مِنْ صِفَاتِهِ،**
**(١٤) ـ** د مخلوق له پيداينت څخه پخوا هم د خپلو صفتونو لرونکی او له همدې صفتونو سره موجود ؤ. او د مخلوقاتو له پيداينت څخه وروسته يې له صفتونو سره کوم صفت ډېر شوی ندی.

**(١٥) ـ وَكَما كَانَ بِصِفَاتِهِ أَزَلِيّاً كَذٰلِكَ لايَزَالُ عَلَيْهَا أَبَدِيّاً.**
**(١٥) ـ** څرنګه چې له خپلو صفتونو سره ازلي دي، همدارنګه په خپلو صفتونو سره ابدي هم دی.

**(١٦) ـ لَيْسَ مُنْذُ خَلَقَ الخَلْقَ اسْتَفَادَ اسْمَ «الخَالِقِ»، وَلا بِإِحْدَاثِهِ البَرِيَّةَ اسْتَفَادَ اسْمَ «البارِي»،**
**(١٦) ـ** نه يې هغه مهال د خالق (پيدا کوونکي) صفت موندلی چې مخلوقات يې پيدا کړل، او نه يې هغه مهال د باري (شتون ته راوستونکي) صفت موندلی چې جهانيان يې له عدم (هيڅ) څخه وجود ته راوستل.

**(١٧) ـ لَهُ مَعْنَى الرُّبوبِيَّةِ وَلا مَرْبوبٌ، وَمَعْنَى الخَالِقِيَّةِ وَلا مَخْلوقٌ،**
**(١٧) ـ** د پالونکي صفت يې پداسې حال کې درلود چې هيڅ موجودات پيدا شوي نه وو، او همداسې د پيدا کوونکي صفت يې پداسې حال کې درلود چې بل هيڅ يو مخلوق پيدا شوی نه وو.

**(١٨) ـ وَ كَمَا أَنَّهُ مُحْيِي المَوْتَى بَعْدَ ما أَحْيَاهُمْ، اسْتَحَقَّ هَذا الاسْمَ قَبْلَ إِحْيائِهِمْ، كَذٰلِكَ اسْتَحَقَّ اسْمَ الخَالِقِ قَبْلَ إِنْشَائِهِمْ،**
**(١٨) ـ** لکه څرنګه چې د مړو له ژوندي کولو څخه وروسته د «محيی الموتی» (د مړو د ژوندي کوونکی) د نامه په درلودلو مستحق دی، دارنګه له ژوندي کولو څخه وړاندې هم د دې نوم مستحق دی، او همدارنګه د مخلوقاتو له پيداينت څخه وړاندی يې د خالق (پيدا کوونکي) صفت درلود.

**(١٩) ـ ذٰلِكَ بِأَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، وَكُلُّ شَيْءٍ إِلَيْهِ فَقِيرٌ، وَكُلُّ أَمْرٍ عَلَيْهِ يَسيرٌ، لايَحْتَاجُ إِلَى شَيْءٍ. لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَ هُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ.**
**(١٩) ـ** دا ځکه چې هغه په هر شي باندې قدرت او توان لري، او هر شئ هغه ته اړ(محتاجه) دی، او هر کار هغه ته آسانه دی، او الله تعالى هيڅ شي ته اړ(محتاجه) نه دی. **لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ.** د هغه په شان هيڅ شئ نشته، او هغه بينا اوريدونکی دی. د شوری سورة (١١).

*(*)*

**(٢٠) ـ خَلَقَ الخَلْقَ بِعِلْمِهِ،**
**(٢٠) ـ** ټول (مخلوقات) يې په خپل علم سره پيدا کړي دي.

**(٢١) ـ وَقَدَّرَ لَهُمْ أَقْدَاراً،**
**(٢١) ـ** او هغوی ته يې تقدير (اندازه) ټاکلی ده.[١]

**(٢٢) ـ وَضَرَبَ لَهُمْ آجالاً،**
**(٢٢) ـ** او هغوی ته يې د ژوندانه مودې ټاکلي دي.

**(٢٣) ـ لَمْ يَخْفَ عَلَيْهِ شَيْءٌ مِنْ أَفْعَالِهِمْ قَبْلَ أَنْ خَلَقَهُمْ، وَعَلِمَ مَا هُمْ عَامِلُونَ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَهُمْ،**
**(٢٣) ـ** د دوی (مخلوقاتو) له پيدايښت څخه وړاندې هم د هغوی کړنې ترينه پټې نه وې، او د دوی له پيدايښت څخه وړاندې هم په هرې هغې کړنې څه چې دوی يې کوونکي دي پوهيده.

**(٢٤) ـ وَأَمَرَهُمْ بِطَاعَتِهِ وَنَهَاهُمْ عَنْ مَعْصِيَتِهِ،**
**(٢٤) ـ** او هغوی يې په خپل طاعت وګمارل او له معصيت څخه يې منع کړل.

**(٢٥) ـ وَ كُلُّ شَيْءٍ يَجْرِي بِقُدْرَتِهِ وَمَشِيئَتِهِ. وَمَشِيئَتُهُ تَنْفُذُ،**
**(٢٥) ـ** هر شئ د هغه په «قدرت»، اراده او غوښتنې سره خوځيږي، او د هغه غوښتنه او اراده نافذه ده.

**(٢٦) ـ وَلا مَشِيئَةَ لِلْعِبَادِ إِلاَّ مَا شَاءَ لَهُمْ، فَمَا شَاءَ لَهُمْ كَانَ وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ.**

---

[١] تقدير الهی علم ته ويل کيږی، يعنې حق تعالی له ازل څخه د خلکو له پيدايښت څخه وړاندې مقرره کړه چې پلانی شئ به په پلانې وخت کې کيږي، او تر پلانې وخته پورې به ژوندی او يا باقي پاتې کيږي، او پلانې تاثيرونه به ترينه پاتې شي، ددی حد او اندازې تعيينولو ته تقدير ويل کيږي، او کوم امور چې د دې تقدير مطابق صادريږي هغه ته قضاء وايي.
کولای شو چې په لاندينې آسانه مثال سره پر تقدير باندی پوه شو: يو مهندس د يوه تعمير د ودانولو لپاره لومړی د هغه نقشه جوړوي، او بيا نقشې ته په پام سره وداني کوي، خو دومره توپير شته چې د مهندس په نقشه کې د تيروتنې امکان او يا په تطبيق کې د تيروتنې امکان شته، خو په الهي علم کې د اشتباه يا تيروتنې امکان هيڅ کله هم منځ ته نه راځي. د فقيه الامت محمود الحسن ګنګوهي د ملفوظاتو د لمړي ټوک د دريم قسط ٢٨ مخ.

**(٢٦) ـ** بندګان هيڅ کومه غوښتنه نلري مګر خو هغه چې الله تعالى يې ورته وغواړي، او هغه څه به کيږي چې الله تعالى يې هغوى ته وغواړي، او کوم شئ چې الله تعالى هغوى ته نوي غوښتي هيڅ کله به هم ونشي.[١]

**(٢٧) ـ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَ يَعْصِمُ وَ يُعَافِي مَنْ يَشَاءُ فَضْلاً، وَ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَ يَخْذُلُ وَ يَبْتَلِي عَدْلاً،**
**(٢٧) ـ** چاته چې وغواړي په خپل فضل سره هدايت ورکوي، او له ګناهونو څخه يې ژغوري او عفوه ورته کوي، يعني له ګناهونو څخه يې تيريږي، چې دا ټول د الله تعالى فضل دى. او که وغواړي په خپله غوښتنه څوک ګمراه کړي، څوک خوار او ذليل کړي او يا هم څوک له ازميښتونو سره سر کړي، دا د الله تعالى عدالت دى.

**(٢٨) ـ وَ كُلُّهُم مُتَقَلِّبُونَ فِى مَشِيَّتِهِ، بَينَ فَضلِهِ وَعَدلِهِ،**
**(٢٨) ـ** او ټول مخلوقات د هغه په غوښتنه او اراده د هغه د فضل او عدل تر منځ حرکت کوي.

**(٢٩) ـ وَ هُوَ مُتَعَالٍ عَنِ الأَضْدَّاد وَ الأَنْدَاد،**
**(٢٩) ـ** او هغه تعالى لدې څخه زښته ډېر اوچت او پاک دى چې ضد او يا سيال ولري.

**(٣٠) ـ لا رَادَّ لِقَضَائِهِ، وَلا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ، وَلا غَالِبَ لأَمْرِهِ،**
**(٣٠) ـ** هيڅ څوک د دې توان نلري چې قضاء يې رد کړي، يا يې حکم په شا وتنبوي، او يا دده په امر باندې برلاسى شي.

**(٣١) ـ آمَنَّا بِذٰلِكَ كُلِّهِ، وَأَيْقَنَّا أَنَّ كُلاًّ مِنْ عِنْدِهِ.**
**(٣١) ـ** مونږ پر هغه څه چې مو ويلي په ټولو ايمان لرو، او پدې کلک يقين لرو چې ټول د الله تعالى له لوري دي.

***

**(٣٢) ـ وَإِنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ المُصْطَفىٰ، وَنَبِيُّهُ المُجْتَبىٰ، وَ رَسُولُهُ المُرْتَضىٰ،**
**(٣٢) ـ** او پدې ايمان لرو چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالى پاک، غوره او خوښ کړل شوى نبي، او ترې راضي شوى استازى دى.

**(٣٣) ـ خَاتِمُ الأَنْبِيَاءِ،**
**(٣٣) ـ** او پدې ايمان لرو چې محمد صلى الله عليه وسلم د پيغمبرانو خاتم دى (نبوت پرې ختم شوى دى).

---

[١] څرنګه چې الله تعالى فرمايلي دي: **وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ.** او تاسي نه غواړئ مګر هغه څه چې الله تعالى د عالميانو پالونکي غوښتلي وي، دا آيت پدې دلالت کوي چې انسان په کفر او ايمان باندې مجبوره ندى، ځکه د چا په هکله چې الله تعالى د ازل په ورځ پوهيده چې هغه به په خپله خوښه ايمان راوړي، الله تعالى د هغه لپاره د ايمان اراده وفرمايله، او په هر چا چې الله تعالى د ازل په ورځ پوهيده چې دا به په خپلې خوښې سره کفر اختياروي او په خپل کفر به اصرار کوي هغه ته يې همدا اراده وکړه چې کافر به وي، د اشارات المرام من عبارات الامام: ٢٣٣ مخ.

**(٣٤) ــ وَإِمَامُ الأَتْقِيَاءِ، وَ سَيِّدُ المُرْسَلِينَ، وَحَبِيبُ رَبِّ العَالَمِينَ،**
**(٣٤) ــ** او د متقيانو سر لښکر، او د رسولانو سردار، او د عالميانو د پالونکي حبيب دی.

**(٣٥) ــ وَكُلُّ دَعْوَةِ نُبُوَّةٍ بَعْدَ نُبُوَّتِهِ فَغَيٌّ وَهَوىٰ؛**
**(٣٥) ــ** او د هغه له پيغمبرۍ څخه وروسته د پيغمبرۍ هره دعوی ګمراهي او هوا پرستي ده.

**(٣٦) ــ وَهُوَ المَبْعُوثُ إِلى عَامَّةِ الجِنِّ وَكَافَّةِ الوَرىٰ، المَبْعُوثِ بِـالحَقِّ وَالهُدىٰ.**
**(٣٦) ــ** او پدې ايمان لرو چې هغه ټولو پيريانو [٢] او انسانانو ته په حق او هدايت سره استول شوی دی.

*(*)*

**(٣٧) ــ وَإِنَّ القُرْآنَ كَلامُ اللَّهِ تَعَالى، بَدَا بِـلا كَيْفِيَّةٍ قَوْلاً، وَأَنْزَلَهُ عَلَى نَبِيِّهِ وَحْياً،**
**(٣٧) ــ** او پدې ايمان لرو چې قرانکريم د الله تعالی کلام دي، او دا کلام پرته له څرنګوالي څخه له الله تعالی څخه څرګندې شوې دي، او هغه يې د وحي په ډول په خپل استازي (محمد صلی الله عليه وسلم) باندې نازلې کړې دی.[٣]

**(٣٨) ــ وَصَدَّقَهُ المُؤْمِنُونَ عَلَى ذلِكَ حَقّاً، وَأَيْقَنُوا أَنَّهُ كَلامُ اللَّهِ تَعَالَى بِالحَقِيقَةِ. لَيْسَ بِـمَخْلُوقٍ كَكَلامِ البَرِيَّةِ،**
**(٣٨) ــ** او مؤمنينو په حق سره هغه ريښتونی بللی دی، او پدې يې يقين کړی دی چې هغه په رښتيا د الله تعالی کلام دي، او د خلکو د کلام په شان د مخلوق خبری ندي.

**(٣٩) ــ فَمَنْ سَمِعَهُ فَزَعَمَ أَنَّهُ كَلامُ البَشَـرِ، فَقَدْ كَفَرَ،**
**(٣٩) ــ** نو که چا دا خبری واوريدلی او داسې يې وانګيرلی چې هغه د بشر خبرې دي، نو يقيناً چې کافر شوی دی.

**(٤٠) ــ وَقَدْ ذَمَّهُ اللَّهُ تَعالَى وَ عَابَهُ، وَ أَوْعَدَهُ عَذابَهُ، حَيْثُ قَالَ سَأُصْلِـيْهِ سَقَرَ.**

---

[١] قران كريم د احزاب په سورة کې د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په هکله فرمايي: **مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا** (٤٠) يعني محمد صلی الله عليه وسلم د الله استازی او خاتم النبيين دی. هر څوک چې له هغه څخه وروسته د پيغمبرۍ دعوی وکړي کافر دی، نو له همدې کبله قاديانيان او بهائيان چې دا دعوی کوي چې ميرزا غلام احمد قادياني يا بهاء الله پيغمبر دی د امت په اجماع سره کافران دي.

[٢] پيريان د الله تعالی د مخلوقاتو څخه داسې يو مخلوق دی چې د لوګي نه لرونکي اور له شعلې څخه جوړ شوی دی، او د انسانانو له سترګو څخه پټ دی، څرنګه چې د الرحمن په سورة کې راغلی دي: **وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ** (١٥).

[٣] امام اعظم رحمه الله په خپل کتاب «الفقه الاکبر» کې ليکلي دي: الله تعالی خبرې کوي نه زمونږ د کلام په شان، ځکه چې مونږ د آلاتو او تورو په واسطه خبرې کوو، او الله تعالی له آلاتو او تورو څخه پرته خبرې کوي، ځکه چې توري ټول مخلوق دي او د الله تعالی کلام مخلوق ندی. الفقه الاکبر: ٥ مخ.

**(٤٠) ـ** نو الله تعالی هغه محکوم کړی دی، او بد يی ګڼلی دی، او د عذاب وعده يې ور سره کړې ده، لکه چې فرمايلي يی دي: **سَأُصْلِيهِ سَقَرَ**. ژر ده چې دی به داخل کړم سقر (اور د دوزخ) ته. د مُدّثر سورة (٢٦).

**(٤١) ـ فَلَمَّا أَوْعَدَ اللَّهُ سَقَرَ لِمَنْ قَالَ إِنْ هَذَا إِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ، عَلِمْنا أَنَّهُ قَوْلُ خَالِقِ البَشَرِ، وَلا يُشْبِهُ قَوْلَ البَشَرِ.**
**(٤١) ـ** نو کله چې الله تعالی د سقر وعده له هغه کس سره وکړه چې د قرآن په هکله يې هغه وينا وکړه چې په قرآن کريم کې را نقل شوې ده. **إِنْ هَذَا إِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ** (٢٥) ندی دا (قرآن) مګر خو خبره د بشر بنی آدم ده، نو مونږ پوه شوو چې قرآن د انسان د پيدا کوونکي خبره ده، او د انسان له خبرو سره مشابهت نلري.

*(*)*

**(٤٢) ـ وَ مَنْ وَصَفَ اللَّهَ تَعَالَى بِمَعْنًى مِنْ مَعَانِي البَشَرِ فَقَدْ كَفَرَ،**
**(٤٢) ـ** هر هغه چا چې الله تعالی له انساني صفاتو څخه په کوم صفت موصوف کړ، له شک څخه پرته کافر شوی دی.[١]

**(٤٣) ـ فَمَنْ أَبْصَرَ هَذا اعْتَبَرَ، وَعَنْ مِثْلِ قَوْلِ الكُفَّارِ انْزَجَرَ، وَعَلِمَ أَنَّ اللَّهَ تَعَالَى بِصِفَاتِهِ لَيْسَ كَالبَشَرِ.**
**(٤٣) ـ** نو څوک چې پدې حقيقت پوه شو عبرت يې واخيست، او له هرې خبرې څخه چې د کفارو د ويناوو په شان وي ځان لرې ساتي، او پدې يقين پيدا کوي چې الله تعالی په خپلو صفاتو کې د بشر د صفاتو په شان ندی.

*(*)*

**(٤٤) ـ وَ الرُّؤْيَةُ حَقٌّ لأَهْلِ الجَنَّةِ بِغَيْرِ إِحَاطَةٍ وَلا كَيْفِيَّةٍ، كَمَا نَطَقَ بِهِ كِتَابُ رَبِّنَا حَيْثُ قَالَ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّها نَاظِرَةٌ.**
**(٤٤) ـ** د الله تعالی ليدنه د جنتيانو لپاره له احاطې او څرنګوالي څخه پرته حق دی، څرنګه چې زمونږ د خالق کتاب وايي: **وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ، إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ.** ځيني مخونه (يعنې د مومنانو به)

---

[١] انساني صفتونه لکه: له چا څخه زيږيدل، او يا څوک زيږول، يا جسم درلودل، رنګ درلودل، يا ونه او قامت، اوږدوالی او پلن والی، حجم، درروند والی يا د اندازی لرل، په حروفو سره غږ لرل يا غږيدل، خوب کول، هيرول، د نس، شا او سينی درلودل، يا د غړو لکه د لاس او پښې، خوله او د قدم درلودل، انتقال، تحرک، استقرار يا ځای پر ځای کيدل، په کوم ځای او يا کوم شي باندی کښيناستل، يا په زمان او مکان باندی منحصر کيدل يا په کوم ځای کي ځای درلودل، يا په کوم ځای کي کښيناستل، او يا داسي نور... نو هر هغه چا چې الله تعالی پدې انساني اوصافو باندې موصوف کړ له شک څخه پرته کافر شوی دی، ځکه چې الله تعالی د خپل ځان په هکله فرمايي: **لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ** (١١) نشته په شان د دغه (الله) هيڅ څيز (په هيڅ څيز کښی) او هم دغه (الله) دی ښه اوريدونکی (د ټولو اقوالو) ښه ليدونکی (د ټولو اعمالو).

په دغی ورځې (د قيامت) کې ښايسته، تازه، روښانه وي خاص د خپل رب ذات ته به کتونکي وي. سورة قيامة (۲۲ - ۲۳).[١]

**(٤٥) ـ وَ تَفْسِيرُهُ عَلَى مَا أَرَادَهُ اللّٰهُ تَعَالَى وَعَلِمَهُ،**

**(٤٥) ـ** د دې معنی هغه شان ده چې الله تعالی اراده کړې او په خپل علم کې يې دي.

**(٤٦) ـ وَكُلُّ مَا جَاءَ فِي ذٰلِكَ مِنَ الحَدِيثِ الصَّحِيحِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم وَ عَنْ أَصْحَابِهِ رِضْوانُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِينَ فَهُوَ كَمَا قَالَ، وَمَعْنَاهُ وَ تَفْسِيرُهُ عَلَى مَا أَرَادَ،**

**(٤٦) ـ** او څومره صحيح حديثونه چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه له اصحابو کرامو رضوان الله تعالی عليهم اجمعين څخه پدې هکله راغلي دي، هغه شان دي چې هغه صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي، او معنی او تفسير يې هغه شان دی چې پخپله الله تعالی اراده کړې ده.[٢]

**(٤٧) ـ لا نَدْخُلُ فِي ذٰلِكَ مُتَأَوِّلِينَ بِـآرَائِنَا وَلا مُتَوَهِّمِينَ بِـأَهْوَائِنا،**

**(٤٧) ـ** مونږ په هغه کې په خپلو تاويلونو سره نه ننوځو، او نه هم د خپلو خواهشاتو مطابق په هغه کې خيال پردازي کوو.[٣]

**(٤٨) ـ فَإِنَّهُ مَا سَلِمَ فِي دِينِهِ إِلاَّ مَنْ سَلَّمَ لِلَّهِ تَعَالى وَ لِرَسُولِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ رَدَّ عِلْمَ مَا اشْتَبَهَ عَلَيْهِ إِلَى عَالِمِهِ،**

**(٤٨) ـ** ځکه چې هيڅ څوک به هم په خپل دين کې سلامت پاتې نشي مګر دا چې خپل ځان په بشپړه توګه الله تعالی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم ته وسپاري. او د کوم شي پوهه چې پرې شک ولری (مشکوک وی) وي د هغه عالم (الله)[٤] ته يې پرېږدې.

---

[١] امام اعظم رحمه الله په خپل کتاب «الفقه الاکبر» کې ليکلي دي: مؤمنان به په جنت کې الله تعالی په خپلو سترګو، پرته له کومې تشبيه څخه، او پرته له کوم کيفيت يا کميت څخه، پداسې حال کې ويني چې د هغه او ليدونکو تر منځ به هيڅ واټن (لکه لرې والی، نږدې والی، حائل او مخامخ کيدل) نوي. ۷ مخ.
امام اعظم رحمه الله په خپل کتاب «الوصية» (٥ مخ) کې داسې فرمايي: د الله تعالی ليدل له څرنګوالي، تشبيه، خوا يا سمت او جهت څخه پرته د جنتيانو لپاره حق دی.

[٢] ځکه چې د الله تعالی ليدل او داسې نور الهي صفات لکه «يد، وجه، استواء» له متشابهاتو څخه دي، او الله تعالی د متشابهاتو په هکله فرمايلي دي: **وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ**. حال دا چې نه پوهيږي په حقيقي معنی او مطلب د هغه مګر الله چه دغه متشابهات هم لکه نور ټول شيان ور معلوم دی.

[٣] مونږ الله تعالی پيژنو، او د هغه په هکله پوهيږو چې پرته لدې چې کومه مسافه يا جهت يا مواجهت په منځ کې وي، نوڅرنګه چې مونږ خپل رب په دنيا کې له کيفيت څخه پرته پيژنو نو سبا د آخرت په ورځ به هم پرته له کيفيت څخه هغه وينو. حاشية اشارات المرام من عبارات الامام ۱۷۱ مخ.

[٤] لدې څخه مراد چې د متشابهاتو علم به يې عالم ته پرېږدو: دا ده چې د هغه علم به الله تعالی ته پرېږدو، لکه چې امام طحاوي په ۱۱۳ عبارت کې پدې باندې تصريح کړې ده: (۱۱۳) ـ کله چې د کوم شي علم په مونږ باندې پټ شي وايو: اللّٰهُ اَعلَمُ، يعنې الله تعالی پدې باندې ډېر ښه پوه دی، څرنګه چې الله تعالی فرمايلي: **وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ**. حال دا چې نه پوهيژی په حقيقي معنی او مطلب د هغه مګر الله چه دغه متشابهات هم لکه نور ټول شيان ور معلوم دی.

**(٤٩) ـ وَلا يَثْبُتُ قَدَمُ الإِسْلامِ إِلاَّ عَلَى ظَهْرِ التَّسْلِيمِ وَالاسْتِسْلامِ،**
**(٤٩) ـ** د چا پښه به په اسلام کې ټينګه نشي مګر دا چې په کامله توګه د الله تعالی حکم ته تسليم شي او د هغه فرمان ته منقاد وي.

**(٥٠) ـ فَمَنْ رَامَ عِلْمَ مَا حُظِرَ عَلَيْهِ، وَ لَمْ يَقْنَعْ بِالتَّسْلِيمِ فَهْمُهُ، حَجَبَهُ مَرَامُهُ عَنْ خَالِصِ التَّوْحِيدِ، وَصَافِي المَعْرِفَةِ، وَصَحِيحِ الإِيمَانِ، فَيَتَذَبْذَبُ بَيْنَ الكُفْرِ وَ الإِيْمَانِ وَ التَّصدِيقِ والتَّكْذِيبِ، وَ الإِقْرَارِ وَ الإِنْكَارِ، مُوَسْوَساً تَائِهَاً، زَائِغَاً شَاكَّاً،لاَ مُؤْمِناً مُصَدِّقَاً، وَلاَ جَاحِداً مُكَذِّباً.**
**(٥٠) ـ** نو هر څوک چې په منعه کړل شوي علم کې پلټنه وکړي، او بيايي هم پوهه او فکر پرې قانع نشي، نو دا پلټنه به يې له خالص توحيد، سپيڅلې پيژندګلوۍ او روغ ايمان څخه محروم کړي؛ نو دا کس به د کفر او ايمان، د تصديق او تکذيب، د اقرار او انکار تر منځ وسواسي او لا لهانده، کړېدونکی او شک کوونکی پداسې حال کې روان وي چې نه به تصديق کوونکی مؤمن وي او نه به تکذيب کوونکی منکر.[1]

**(٥١) ـ وَ لايَصِحُّ الإِيمَانُ بِالرُّؤْيَةِ لأَهْلِ دَارِ السَّلامِ لِمَنْ اعْتَبَرَهَا مِنْهُمْ بِوَهْمٍ، أَوْ تَأَوَّلَهَا بِفَهْمٍ،**
**(٥١) ـ** دا «چې جنتيان به په جنت کې الله تعالی ويني»، د هغه چا ايمان چې دا ليدنه تصوري او خيالي بولي او يا داسې تاويل کوي چې دا ليدنه به يوه پوهه يا ادراک وي، صحيح ندی.

**(٥٢) ـ إِذا كَانَ تَأْوِيلُ الرُّؤْيَةِ وَ تَأْوِيلُ كُلِّ مَعْنىً يُضَافُ إِلَى الرُّبُوبِيَّةِ تَرْكَ التَّأْوِيلِ وَلُزُومَ التَّسْلِيمِ، وَعَلَيْهِ دِينُ المُرْسَلِينَ وَشَرَائِعُ النَّبِيِّينَ.**
**(٥٢) ـ** ځکه چې د الله تعالی د ليدلو د معنی په حقيقی بڼه پوهيدل، او ربوبيت ته د هر اضافه شوي صفت په عملي بڼه باندې پوهيدل پريښودل شوي دي، او الهي حکم ته تسليميدل لازمي دي، او د رسولانو دين او د انبياؤ شريعت په همدې بنسټ ټينګ ولاړ دی.

*(*)*

**(٥٣) ـ وَ مَنْ لَمْ يَتَوَقَّ النَّفْيَ وَالتَّشْبِيهِ زَلَّ، وَلَمْ يُصِبِ التَّنْزِيهِ؛**
**(٥٣) ـ** هر چا چې د الهي صفاتو له نفيې اويا له «انساني صفاتو» سره له تشبيه کولو څخه ځان ونه ژغوره ګمراه شوی دی، او د الله تعالی له ريښتوني تنزيه څخه محروم شوی دی.

**(٥٤) ـ فَإِنَّ رَبَّنَا جَلَّ وَعَلا مَوْصُوفٌ بِصِفَاتِ الوَحْدَانِيَّةِ، مَنْعُوتٌ بِنُعُوتِ الفَرْدَانِيَّةِ، لَيْسَ بِمَعْنَاهُ أَحَدٌ مِنَ البَرِيَّةِ،**

---

[1] څرنګه چې وويل شول هغه ټول له متشابهاتو څني دي، او الله تعالی د هغه کسانو په هکله چې په متشابهاتو کې بحث او څيړنه کوي داسې فرمايي: **فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ.** د آل عمران د سورې ٧ مه آيه.
يعني: د هغه کسانو په زړونو کې چې له باطل سره مينه شته، نو د فتنې د را پاريدلو لپاره او د هغې د مراد د طلب لپاره له متشابهاتو څخه پيروي کوي پداسې حال کې چې د هغه په مراد پرته له الله تعالی څخه بل څوک نه پوهيږي.

**(٥٤) ـ** ځکه چې زمونږ ستر او سپیڅلی پالونکی د یووالي په صفت موصوف دی، او د یوائې توب په ستاینه ستایل شوی دی، چې له مخلوقاتو څخه یې هیڅ څوک هم له ده سره مشابه کیدلای نشی.

*(*)*

**(٥٥) ـ تَعَالَى اللَّهُ عَنِ الحُدُودِ وَالغَايَاتِ، وَالأَرْكانِ وَالأَعْضَاءِ وَالأَدَوات،**

**(٥٥) ـ** الله تعالی د حدونو، غایاتو، ارکانو، غړو، او ادواتو له لرلو څخه پاک، زښته ډیر اوچت او لوړ دی.[١]

**(٥٦) ـ لا تَحْوِيهِ الجِهَاتُ السِّتُّ كَسَائِرِ المُبْتَدَعاتِ.**

**(٥٦) ـ** شپږګونو خواوو هغه ندی را چاپیر کړی[٢]، څرنګه چې مخلوقات یې له هرې خوا را چاپیر کړی دی.[٣]

*(*)*

**(٥٧) ـ وَالمِعْرَاجُ حَقٌّ.**

---

[١] **حدود:** د حد جمع ده، چې پوله، یا د یوه شي څنډې یا پیڅې ته ویل کیږي. **غایات:** د غایت جمع دی، د یوه شي آخري سر یا پایلي ته ویل کیږي. **ارکان:** د رکن جمع دی، د یو شي ارکان د هغه شي د ماهیت برخو یا اجزاو ته ویل کیږي، لکه د انسان په بدن کي سر، سینه، غاړه. **اعضاء یا غړي:** د عضوې جمع ده، لکه لاس، پښې او داسې نور. **ادوات:** د ادات جمع ده، د بدن وړو برخو ته لکه ژبه، غاښونه، شونډې، او داسې نور. دارنګه سامان او وسایلو ته هم ویل کیږي، چې دا ټول اجسام دي، او الله تعالی له جسم او ټولو جسماني صفتونو څخه پاک او منزه دی.

[٢] **شپږ خواوې:** یعنې لوړ ،کښته، ښې ، کیڼ ، مخه او شا.
علامه علي القاري هروي په الفقه الاکبر (٣٥ مخ) باندې خپله شرحه کي لیکي: الله تعالی نه په کوم ځای کي دی او نه په کوم وخت کې، ځکه مکان او زمان د الله تعالی مخلوق دي، او الله تعالی له ازل څخه پداسې حالت کې موجود وو چې مخلوق یې نه ؤ خلق کړي، او نه هم مخلوق ورسره ؤو.
او د همدې کتاب په ٣٦ مخ کې لیکي: او هغه په ځای او مکان کې قرار نلري، نه پورته، نه کښته او نه په بل کوم ځای کې، او نه په هغه باندې وخت راځي، دارنګه عقیدی د مُشَبِّهه، مُجَسِّمَه، او حلولیه له باطلو خیالاتو ځنې دي.

[٣] یعنې هر مخلوق چې الله تعالی پیدا کړی دی شپږ خواوې لري، او له شپږو خواو څخه په یوه خوا کې قرار لري، خو الله تعالی **لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ** (شوری ١١) نښته په شان د دغه (الله) هیڅ څیز (په هیڅ څیز کښی). ځکه کوم جهت او کومه خوا نلري، نو بناءً نه پورته خوا کې دی او نه کښته خوا کې، نه کیڼه خوا کې دی او نه ښې خوا کې، ځکه چې هغه د ټولو خواوو خالق دی، او د مخلوقاتو له صفاتو څخه او د هغوی له مشابهت څخه ډیر اوچت او ډیر پاک دی.
امام طحاوي رحمه الله پخپلې دې تصریح سره د دوو باطلو ډلو عقیدې چې مُجَسِّمَه او مُشَبِّهَه دي رد کړی ده، هغوی پدې عقیده دي: چې نعوذ بالله، الله تعالی پاس په سر پوري دی، چې دلته د امام طحاوي د تصریح بیا بیانول پکار دي: (٣٢- هر چا چې الله تعالی له انساني صفاتو څخه په کوم صفت موصوف کړ ، له شک څخه پرته کافر شوی دی).
څرنګه چې پر سر پورې کیدل، او په بره جهت کې کیدل له انساني او جسماني صفاتو څخه دی، نو ځکه پدې باندې اعتقاد کول ګمراهي او ضلالت دی، او څوک چې پدې عقیده دي هغه د اهل سنت والجماعت څخه ندي، بلکه د لار ورکو ډلو یعنې مُجَسِّمَه او مُشَبِّهَه له ډلو څخه دي چې هغوی الله تعالی ته د داسې صفتونو نسبت کوي.

**(٥٧) ـ** او معراج حق دی.

**(٥٨) ـ وَقَدْ أُسْرِيَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعُرِجَ بِشَخْصِهِ فِي الْيَقَظَةِ إِلَى السَّمَاءِ، ثُمَّ إِلَى حَيْثُ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى مِنَ الْعُلَى، وَأَكْرَمَهُ اللَّهُ تَعَالَى بِمَا شَاءَ، فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى، فَصَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَ سَلَّمَ فِى الآخِرَةِ وَالأُوْلَى.**
**(٥٨) ـ** رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په شپه کې بوتلل شو، او په ويښه کې په جسماني توګه آسمان ته لوړ کړی شو، بیا د لوړوالي په لور چې الله تعالی خومره غوښتل لوړ کړی شو، او کوم اکرام سره چې الله تعالی غوښتل اکرام يې وکړل شو، **فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى، مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى،** پس وحی وکړله (الله په ژبه د جبريل) بنده خپل ته هغه څه چې وحی يې وکړه. نه وو ويلی دروغ زړه (د محمد) هغه (جبريل) چه ليدلی يې ؤ(په سترګو). د نجم سوره(١٠-١١). نو په دنیا او آخرت کې دې په پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې د الله تعالی درود وي.

**(٥٩) ـ وَالْحَوْضُ الَّذِيْ أَكْرَمَهُ اللَّهُ تَعَالَى بِهِ غِيَاثاً لأُمَّتِهِ حَقٌّ،**
**(٥٩) ـ** او هغه حوض چې الله تعالی په اعزازي توګه خپل پیغمبر ته د هغه د امت د خړوبولو لپاره ورکړی دی حق دی.

**(٦٠) ـ وَالشَّفَاعَةُ الَّتِي ادَّخَرَهَا اللَّهُ لَهُمْ كَمَا رُوِيَ فِيْ الأَخْبَارِ،**
**(٦٠) ـ** او کوم شفاعت چې د هغوی لپاره الله تعالی [خپل پیغمبر] ته ساتلی دی، لکه څرنګه چې په احاديثو کې روايت شوی حق دی.

*(*)*

**(٦١) ـ وَالْمِيْثَاقُ الَّذِيْ أَخَذَهُ اللَّهُ تَعَالَى مِنْ آدَمَ ؛ وَ ذُرِّيَّتِهِ حَقٌّ.**
**(٦١) ـ** او کومه ژمنه (تعهُّد) چې الله تعالی له آدم علیه السلام او د هغه له اولادې څخه اخيستی حق دی.

**(٦٢) ـ وَقَدْ عَلِمَ اللَّهُ تَعَالَى فِيْمَا لَمْ يَزَلْ عَدَدَ مَنْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ، وَيَدْخُلِ النَّارَ جُمْلَةً وَاحِدَةً، لا يُزَادُ فِيْ ذَلِكَ الْعَدَدِ وَلا يَنْقُصُ مِنْهُ،**
**(٦٢) ـ** الله تعالی له ازل څخه پدې پوهيده چې څومره کسان به جنت داخل شي او څومره کسان به دوزخ ته داخل شي، چې په هغه شمير کی به نه زيات والی او نه څه کموالی راشی.

**(٦٣) ـ وَكَذَلِكَ أَفْعَالَهُمْ، فِيْمَا عَلِمَ مِنْهُمْ أَنَّهُمْ يَفْعَلُونَهُ.**
**(٦٣) ـ** دارنګه الله تعالی له ازل څخه پدې پوهيده چې هغوی به څه کړنې تر سره کوي.

**(٦٤) ـ وَ كُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ.**

**(٦٤) ـ** هر چا ته به هغه کړنه آسانه کيږي، کومې ته چې پيدا شوی دی.[١]

**(٦٥) ـ وَالاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْمِ.**
**(٦٥) ـ** د اعمالو د فيصلې مدار د انسان په وروستني عمل باندې دی.[٢]

**(٦٦) ـ وَ السَّعِيدُ مَنْ سَعِدَ بِقَضَاءِ اللهِ، وَ الشَّقِي مَنْ شَقىَ بِقَضَاءِ اللهِ.**
**(٦٦) ـ** سعيد هغه څوک دی چې په الهي قضاء سره يې سعادت موندلی وي، او شقي هغه دی چې په الهي قضاء سره يې شقاوت موندلی وي.

**(٦٧) ـ وَأَصْلُ الْقَدَرِ سِرُّ اللهِ فِي خَلْقِهِ، لَمْ يَطَّلِعْ عَلَى ذٰلِكَ مَلَكٌ مُقَرَّبٌ، وَلا نَبِيٌّ مُرْسَلٌ.**
**(٦٧) ـ** د تقدير اصل د الله تعالی په خلق (خلقت) کې هغه پټ راز دی چې نه هيڅ مُقرَّبه مَلَکه پرې پوه شوې ده او نه هيڅ استول شوی نبي پرې پوه شوی دی.

**(٦٨) ـ وَ التَّعَمُّقُ وَ النَّظَرُ فِيْ ذٰلِكَ ذرِيْعَةُ الخِذلانِ، وَسُلَّمُ الْحِرْمَانِ، وَدَرَجَةُ الطُّغْيَانِ.**
**(٦٨) ـ** پدې هکله تحقيق او پلټنه او ژور سوچونه کول د ايمان له سموالی څخه د بې برخې کيدلو وسيله، د محروم کيدلو پوړی، او د سرکښۍ درجه ده.

**(٦٩) ـ فَالْحَذَرَ كُلَّ الْحَذَرِ مِنْ ذٰلِكَ نَظَراً أَوْ فِكْراً أَوْ وَسْوَسَةً؛ فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَىٰ طَوَى عِلْمَ الْقَدَرِ عَنْ أَنَامِهِ، وَنَهَاهُمْ عَنْ مَرَامِهِ، كَما قَالَ فِي كِتابِهِ: لاَ يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُوْنَ، فَمَنْ سَأَلَ: لِمَ فَعَلَ؟ فَقَدْ رَدَّ حُكْمَ كِتابِ اللهِ، وَمَنْ رَدَّ حُكْمَ كِتابِ اللَّهِ تَعالى، كَانَ مِنَ الكافِرِينَ.**
**(٦٩) ـ** نو با خبره اوسئ او په بشپړې پاملرنې سره پام وکړئ چې پدې هکله نه ژوره کتنه وکړئ، نه سوچ وکړئ، او نه هم په وسوسو اخته شئ، ځکه چې يقيناً الله تعالی د تقدير علم له خپلو مخلوقاتو څخه پټ کړی دی، او هغوی يې پدې هکله له پلټنې څخه منع کړي دي، څرنګه چې په خپل سپيڅلي کتاب کې يې فرمايلي دي: **لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ.** نه پوښتيدلي کيږي (الله) له هغو شيانو چه کوی يې (ځکه چه الوهيت يوازې دده صفت دی.او دوی پوښتيدلي کيږي (د دوی له افعالو ،احوالو او اقوالو ځکه چې دوی مخلوق او مملوک دی).د انبياء سورة (٢٣).
نو چا چې وپوښتل چې الله تعالی ولی داسې وکړل، نو د الله تعالی د کتاب حکم يې رد کړی دی، او چا چې د الله تعالی د کتاب حکم رد کړ، له کافرانو څخه دی.

**(٧٠) ـ فَهذا جُمْلَةُ ما يَحْتاجُ إِلَيْهِ مَنْ هُوَ مُنَوَّرٌ قَلْبُهُ مِنْ أَوْلِياءِ اللَّهِ تَعالى، وَهِيَ دَرَجَةُ الرَّاسِخينَ في العِلْمِ؛**

---

[١] نو هر هغه څوک چې لدې لپاره پيدا شوي چې خير او سعادت ترې څرګند شي، له هغه څخه به په خپل اختيار خير او سعادت صادريږي، او هر هغه څوک چې د دې لپاره پيدا شوي چې شر او شقاوت ترې څرګند شي، نو له هغه څخه به په خپل اختيار سره شر او شقاوت صادريږي. اشارات المرام من عبارات الامام: ٢٤٧ مخ.
[٢] يعني که څوک له دی نړۍ څخه له ايمان سره ولاړ نو ټول اعمال به يې قبول کړی شي، او که د کفر په حالت کې يې له نړی څخه سترګې پټې کړې نو ټول اعمال به يې باطل وي.

**(٧٠) ـ** دا د هغو عقايدو لنډيز دی چې د الله تعالی له دوستانو څخه هغه څوک ورته اړتيا لري چې په الهي نور سره د روښانه زړه لرونکی وی، او دا په علم کې د پاخه شوي عالمانو درجه ده.

**(٧١) ـ لأَنَّ العِلْمَ عِلْمانِ: عِلْمٌ في الخَلْقِ مَوْجودٌ، وَعِلْمٌ في الخَلْقِ مَفْقودٌ؛ فَإِنْكارُ العِلْمِ المَوْجودِ كُفْرٌ، وَ ادِّعاءُ العِلْمِ المَفْقودِ كُفْرٌ. وَلا يَصِحُّ الإيمانُ إلاَّ بِقَبولِ العِلْمِ المَوْجودِ، وَ تَرْكِ طَلَبِ العِلْمِ المَفْقودِ.**

**(٧١) ـ** ځکه چې علم دوه ډوله دی: يو هغه علم دی چې له مخلوقاتو سره موجود دی، او بل هغه علم چې له مخلوقاتو سره موجود ندی او ځنی پټ دی، نو له موجود علم څخه انکار کول کفر دی، او د مفقود يا پټ شوی علم د درلودلو ادعاء کفر دی[١]، نو ايمان د موجود علم له منلو پرته او له مفقود علم څخه له انکار کولو پرته صحيح کيدلای نشي.

*(*)*

**(٧٢) ـ وَ نُؤْمِنُ بِاللَّوْحِ، وَ القَلَمِ، بِجَميعِ ما فيهِ قَدْ رُقِمَ.**

**(٧٢) ـ** مونږ په لوح محفوظ او په هغه شيانو چې هلته ليکل شوي دي ايمان لرو، او همدارنګه په قلم باندی هم ايمان لرو[٢].

**(٧٣) ـ فَلَوِ اجْتَمَعَ الْخَلْقُ كُلُّهُمْ عَلى شَيْءٍ كَتَبَهُ اللَّهُ فيهِ أَنَّهُ كائِنٌ لِيَجْعَلوهُ غَيْرَ كائِنٍ لَمْ يَقْدِروا عَلَيْهِ. وَلَوِ اجْتَمَعَ الْخَلْقُ كُلُّهُمْ عَلى شَيْءٍ كَتَبَهُ اللَّهُ فيهِ أَنَّهُ غَيْرُ كائِنٌ لِيَجْعَلوهُ كائِناً لَمْ يَقْدِروا عَلَيْهِ.**

**(٧٣) ـ** مونږ پدې ايمان لرو چې که ټول خلک پدې سره را ټول شي چې هغه څه نه کيدونکي کړي چې الله تعالی يې کيدل ليکلي دي، وبه نه توانيږي. اوکه ټول خلک پدې سره را ټول شي چې هغه څه کيدونکی کړي چې الله تعالی يې نه کيدل ليکلي دي، وبه نه توانيږي.

**(٧٤) ـ جَفَّ القَلَمُ بِما هُوَ كائِنٌ إِلى يَوْمِ القِيامَةِ.**

---

[١] **هغه علم چې له مخلوقاتو سره موجود دی:** د مثال په توګه د يوه صانع په شتون او په وحدانيت باندې علم، او د الله تعالی په ازليت او ابديت باندې علم، د الله تعالی په کمال او حکمت باندې علم، او د نقص له صفاتو څخه د هغه په تنزيه باندې علم، او د حدوث له صفاتو څخه د الله تعالی په سپيڅلتيا باندې علم، چې دا ټول په قاطع دلايلو او براهينو ثابت دي، او د مثال په توګه: د الله تعالی د ټولو صفاتو د جلال او اکرام علم، د الله تعالی په اوامرو او نواهيو، او حلال او حرام، او په هغه دين چې نبی عليه السلام راوړی دی پوهيدل، چې دی ټولو علومو ته مخلوق لاسرسي لری او په هغه باندې انکار کول کفر دی.
**هغه علم چې انسان ورته لاسرسي نلري او ځنی پټ دی:** دا هغه علم دی چې د الله تعالی په ذات او صفاتو پورې خاص دی، لکه په غيب باندې پوهيدل، په قضاء او قدر باندې پوهيدل، د قيامت په قايميدلو باندې پوهيدل او داسې نور... چې د دې پوهې د درلودلو ادعاء او پدې پوهې پسې پلټنه کول له الله تعالی سره د شراکت دعوی ده، چې الله تعالی پټه کړی ده او ددی علم د لرلو ادعا، کفر دی. شرح العقيدة الطحاوية غزنوي: ٧٨ مخ، او شرح العقيدة الطحاوية بابرتي: ١٠٠مخ.

[٢] امام اعظم رحمه الله په خپله رساله «الوصية» کې فرمايلي دي: «مونږ پدې عقيده يو چې الله تعالی قلم ته وفرمايل چې: وليکه! قلم ووېل: ای ځما پالونکيه څه وليکم؟ الله تعالی وفرمايل: ټول هغه څه وليکه چې د قيامت تر ورځې پورې به مينځ ته راځي». نو ځکه الله تعالی فرمايي: **وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ (٥٢) وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُسْتَطَرٌ (٥٣)**.٣ مخ.

**(۷٤) ـ** «قلم» وچ شو، او ټول هغه څه ليکل شوي دي چې د قيامت تر ورځې ؤ، دي، او وبه شي[۱].

**(۷۵) ـ وَما أَخْطَأَ العَبْدَ لَمْ يَكُنْ لِيُصيبَهُ، وَما أَصابَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَهُ.**
**(۷۵) ـ** کوم شئ چې بنده ته ونه رسيد هيڅ کله به هم ورته رسيدلی نه ؤ، او کوم شئ چې بنده ته ورسيد هيڅ کله به هم ترې خطاء شوی نه ؤ.

**(۷٦) ـ وَعَلى العَبْدِ أَنْ يَعْلَمَ أَنَّ اللَّهَ قَدْ سَبَقَ عِلْمُهُ في كُلِّ شَيْءٍ كائِنٍ مِنْ خَلْقِهِ،**
**(۷٦) ـ** په بنده باندې واجبه ده پدې پوه شي چې الله تعالی له مخلوقاتو څخه په هر کيدونکي شي د هغه له کيدلو څخه له وړاندې پوهيده.

**(۷۷) ـ وَ قَدَّرَ ذلِكَ بِمَشيئَتِهِ تَقْديراً مُحْكَماً مُبْرَماً، لَيْسَ فيهِ ناقِضٌ وَلا مُعَقِّبٌ، وَلا مُزِيلٌ وَلا مُغَيِّرٌ، وَلا مُحَوِّلٌ، وَلا زَائِدٌ وَلا نَاقِصٌ مِنْ خَلْقِهِ في سَماواتِهِ وَ أَرْضِهِ.**
**(۷۷) ـ** بيا الله تعالی په خپلې غوښتنې او ارادې سره هغوی ته يوه دقيقه، ټينګه او قطعي طرحه او اندازه وټاکله، په داسې ټاکنې سره چې په آسمانونو او ځمکه کې هيڅ مخلوق هم پدې ونتوانيږي چې هغه نقض (مات) کړي يا يې وروسته کړي يا يې له منځه يوسي يا يې بدل کړي، يا له يوه حالت څخه بل حالت ته يې واړوي، يا يې ډېر کړي او يا يې لږ کړي.

**(۷۸) ـ وَلَا يَكُونُ مُكَـوَّنٌ إِلَّا بِتَكوِيـنِهِ، وَ التَّكوِينُ لَا يَكُونُ إِلَّا حَسَناً جَمِيلاً.**
**(۷۸) ـ** هيڅ شئ به مينځ ته را نشي مګر دا چې الله تعالی يې رامنځته کړي، او د هغه مينځ ته راوړل (تکوين) ښه او ښايسته دي.

---

[۱] امام اعظم رحمه الله په خپل «الفقه الاکبر» (۵ مخ) کې فرمايي: دا ليکنه وصفي ده، نه حکمي.
امام کمال الدين بياضي رحمه الله د دې عبارت په شرح کې وايي چې: بنده [که کوم عمل ترسره کوي] هغه په خپل اختيار تر سره کوي. اشارات المرام من عبارات الامام: (۵) مخ.
او علامه علی القاري هروي رحمه الله په خپل شرح الفقه الاکبر (٤١ مخ) کې ليکلي دي: يعني الله تعالی د هر شي په هکله ليکلي دي چې دا شان يا هغه شان به شي، داسې يې ندي ليکلي چې دا شان يا هغه شان دی بايد وشي.
امام مغنيساوي رحمه الله د امام صاحب دا عبارت په خورا تفصيل سره شرح کړی دی او وايي: «الله تعالی ټول شيان په لوح محفوظ کې په خپلو اوصافو باندې ليکلي دي، د مثال په توګه الله تعالی د هر چا ښايست، او نه ښايست، اوږدوالی، لنډوالی، پلنوالی، غټ والی او وړوکوالی، دروند والی او سپکوالی، تود والی او سوړ والی، وچ والی، اطاعت او نافرمانې، اراده، قدرت، کسب، او نور صفات، احوال او اخلاق ليکلي دي، چې هغه يې پرته له وصف او پرته له سبب څخه د حکم فرمايلو په توګه ندي ليکلي.
د مثال په توګه: الله تعالی په لوح محفوظ کې داسې ندي ليکلي چې: خالد بايد مؤمن وي، حامد بايد کافر وي، ځکه که داسې يې ليکلي وای نو خالد به په ايمان راوړلو او حامد به په کفر کولو مجبوره ؤ، ځکه که الله تعالی د کوم شي په واقع کيدلو حکم وکړی هرو مرو واقع کيږي، ځکه چې د الله تعالی حکم هيڅ څوک نشي بدلولای. خو الله تعالی په لوح محفوظ کې ليکلي دي: چې خالد به په خپل اختيار، خوښه او قدرت سره ايمان غواړي، او کفر به نه غواړي، او مؤمن به وي، او ليکلي يې دي چې حامد به په خپل اختيار او قدرت او خوښه کفر غواړي، او له ايمان راوړلو څخه به ليرې والی او ډډه وکړي، او کافر به وي. شرح الفقه الاکبر مغنيساوي: ۱۲مخ.

**(۷۹) ـ وَ ذٰلِكَ مِنْ عَقْدِ الإيمانِ وَ أُصولِ المَعْرِفَةِ، وَالاعْتِرافِ بِتَوْحيدِ اللّٰهِ وَ رُبوبِيَّتِه؛ كَما قالَ تَعالى في كِتابِـهِ العَزيزِ: وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْديراً. وَ قالَ تَعالى: وَكَانَ أَمْرُ اللهِ قَدَراً مَقْدُوراً.**

**(۷۹) ـ** دا اعتقاد د ایمان پر بنیاد دی، او د عُرفان له اصولو څخه دی، او د الله تعالی په ربوبیت او د هغه پر یووالی باندی اقرار دی، لکه چې په خپل سپیڅلي کتاب کې یی فرمایلي دي: **وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا.** او پیدا کړی دی الله هر شی پس په اندازه کړی یی دی هغه(شی) په اندازه کولو سره. سورة الفرقان (۲). دارنګه فرمایي: **وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ قَدَرًا مَقْدُورًا.** او دی امر حکم د الله یو حکم مقرر کړی شوی (په قطع او جزم سره). سورة احزاب (۳۸).

**(۸۰) ـ فَوَيْلٌ لِمَنْ صارَ لَهُ اللّٰهُ في القَدَرِ خَصيماً، وَ أَحْضَرَ لِلنَّظَرِ فيهِ قَلْباً سَقيماً، لَقَدِ الْتَمَسَ بِوَهْمِـهِ في مَحْضِ الْغَيْبِ سِرّاً كَتيماً، وَ عادَ بِما قَالَ فيهِ أَفَّاكاً أَثيماً.**

**(۸۰) ـ** نو افسوس هلاک (او د دوزخ کنده) دې پر هغه چا وي چې په قضاء او قدر کې له الله تعالی سره دښمن شو، او پدې هکله یې د سوچ کولو لپاره خپل زړه ناروغ کړ، او په خپل وهم سره یې په محض غیب کې د پټ راز پلټنه وکړه، او پداسې حال کې را ستون شو چې په خپله وینا کې ستر ګناهګاره دروغجن دی.

*(*)*

**(۸۱) ـ وَ العَرْشُ وَ الكُرْسِيُّ حَقٌّ،**

**(۸۱) ـ** عرش او کرسی حق دي.

**(۸۲) ـ وَ هُوَ عَزَّوَجَلَّ مُسْتَغْنٍ عَنِ العَرْشِ وَ مادونَهُ،**

**(۸۲) ـ** او الله تعالی له عرش او له هغه څیزونو څخه چې د عرش لاندې دي مستغني او بی نیازه دی[1].

---

[1] امام اعظم رحمه الله په خپل کتاب «الوصیة» (۳ مخ) کې فرمایلي:
مونږ پدې اقرار لرو چې الله تعالی پرته لدې څخه چې عرش ته اړتیا ولري، او پرته لدې څخه چې په عرش باندې ناست یا په هغه باندې استقرار ولري په عرش باندې استواء کړې ده، او هغه په خپله د عرش او غیر عرش ساتونکی دی، ځکه که الله تعالی د مخلقاتو پشان اړ او حاجتمند وای نو د کایناتو د پیدا کولو او د امورو د تدبیر توان به یې نه درلود، او که کښیناستلو او استقرار ته یې اړتیا درلودای نو د عرش له پیداینت څخه رومبی یی چیرته استقرار درلود؟ نو الله تعالی لدې څخه چې په عرش باندې کښیني او یا استقرار ولري ډېر سپیڅلی او ډېر او چت او ستر دی.
د امام اعظم «الفقه الابسط (۲۱ مخ) کتاب کې دي:
که چا پوښتنه وکړه چې الله تعالی په کوم ځای کې دی؟ [ځواب یې څه دی؟] امام صاحب وویل: نو هغه ته به وویل شي چې الله تعالی له ازل څخه، او مخکې لدې څخه چې ځای او جهان پیدا کړي موجود ؤ، (ځای) موجود نه ؤ خو الله تعالی موجود ؤ، چې نه کوم ځای موجود ؤ؟ او نه کوم بل شي موجود ؤ؟ ځکه الله تعالی [ځای او مکان] او ټول شیان پیدا کړي دي،[نو ځکه هغه له ځای او مکان څخه سپیڅلی او پاکیزه دی].
امام اعظم رحمه الله د خپل کتاب «الفقه الابسط» (۱٤ مخ) په بل ځای کې فرمایلي: هر چا چې وویل: زه نه پوهیږم چې زما رب په ځمکه کې دی او که په آسمان کې دی، کافر شوی دی.
امام ابواللیث سمرقندي رحمه الله ددې عبارت په شرحه کې لیکلي دي:

**(٨٣) ـ مُحيطٌ بِكُلِّ شَيْءٍ وَ بِمَا فَوْقَهُ،**
**(٨٣) ـ الله تعالی په ټولو شيانو او په هغه شيانو چې د عرش له پاسه[1] دي احاطه کوونکی دی.**

---

ځکه د دې شخص پدې عبارت کې دا ايهام (شک يا ګمان) دی چې الله تعالی په کوم ځای کې ځای پرځای شوی دی، نو ځکه نوموړی شخص مشرک دی. شرح الفقه الابسط: ٢٥ مخ.
امام کمال الدين بياضي رحمه الله د دې عبارت په شرحه کې ليکلي دي:
[هغه ځکه کافر شوی دی] چې: هغه پدې څرګندونې سره څرګنده کړې ده چې الله تعالی په کومه خوا کې يا په کوم ځای کې ځای پر ځای شوی دی، [او د داسې عقيدې لرل کفر دی]. اشارات المرام من عبارات الامام: ١٦٨مخ.
امام عِزّ الدين بن عبد السلام رحمه الله په خپل کتاب «حل الرموز» کې د امام اعظم رحمه الله د دې عبارت په شرح کې ليکلي دي: ځکه چې دې سړی په خپلې دې وينا سره دېته اشاره کړې ده چې الله تعالی په کوم ځای او په کوم مکان کې ځای پر ځای شوی دی، او هر څوک چې داسې انګيرنه کوي چې الله تعالی په کوم ځای يا په کوم مکان کې دی، د مُشَبِّهَه فرقې له پيروانو څخه دی. د فقه اکبر شرح، علي قاري هروي: ١١٥ مخ.
امام اعظم د خپل کتاب «الفقه الابسط» (١٤ مخ) په بل ځای کې فرمايلي دي:
دارنګه که څوک ووايي چې: الله په عرش باندې دی، او زه نه پوهيږم چې عرش په آسمان کې دی او که په ځمکه کې،[هغه هم کافر شوی دی].
امام کمال الدين بياضي رحمه الله د دې عبارت په شرح کې ليکي:
ځکه چې دا خبره د دې مستلزمه ده چې ويونکی يې پر دې عقيده دی چې الله تعالی په کوم جهت يا مکان کې ځای پر ځای شوی دی، او دا عقيده د الله تعالی په شان کې يو صريح نقص او عيب لګول دي،[او دا کفر دی]. اشارات المرام من عبارات الامام: ١٦٨ مخ.

***

په يوه صحيح حديث کې راغلي دي: رسول الله صلی الله عليه وسلم د عرش له يوی پورته کوونکې ملکې څخه په کوم ځای يا مکان کې له ځای پرځای کيدلو څخه د الله تعالی سپيڅلتوب روايت کړی دی، له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت شوی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
ماته اجازه وشوه چې له يوې داسې ملکې څخه تاسې ته روايت وکړم چې پښې يې په اومه ځمکه کې دي او عرش يې په ولې ايښی دی، او وايي چې: ای الله! له شک څخه پرته ته لدې څخه سپيڅلی يې چې وويل شي: په کوم ځای کې يې او په کوم ځای کې اوسيږې.
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أُذِنَ لِي أَنْ أُحَدِّثَ عَنْ مَلَكٍ قَدْ مَرَقَتْ رِجْلَاهُ الْأَرْضَ السَّابِعَةَ، وَالْعَرْشُ عَلَى مَنْكِبِهِ، وَهُوَ يَقُولُ: سُبْحَانَكَ أَيْنَ كُنْتَ؟ وَأَيْنَ تَكُونُ؟
مسند ابي يعلي: ١١/٤٩٦ ، ٦٦١٩ حديث، او المطالب العالية: ١٠/٨٢ نمبر حديث٣٥٣٠
حافظ ابن حجر عسقلاني فرمايلی دی چې دا حديث صحيح دی. دارنګه علامه هيثمي رحمه الله په مجمع الزوايد ١/٨٠ کې او علامه سيوطي رحمه الله په الدر المنثور ١٣/١٦ او علامه آلوسي په روح المعاني: ١٢/٢٩٩ کې او محشي مسند ابي يعلي: ١١/٤٩٦، ٦٦١٩ نمبر حديث د دې حديث په صحت باندې تصريح کړې ده.

[1] له عرش نه د پاسه شيانو څخه مراد لوح محفوظ دی، څرنګه چې پدې هکله د دې مشهوره حديث څخه چه د حديث په اکثره کتابونو کې راغلي دي، له رسول صلی الله عليه وسلم څخه روايت شوی دی، چې فرمايي: **عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَمَّا قَضَى اللَّهُ الخَلْقَ كَتَبَ فِي كِتَابِهِ فَهُوَ عِنْدَهُ فَوْقَ العَرْشِ إِنَّ رَحْمَتِي غَلَبَتْ غَضَبِي».**
رواه البخاري: ٣١٩٤ او ٧٤٢٢ او ٧٥٥٤ رقم او په مسلم کې ١۴(٢٧٥١) او ١۶(٢٧٥١) او د بخاري د يوه روايت په ٧۴٠۴ رقم کې راغلي: **وَهُوَ وَضْعٌ(مَوْضُوعٌ) عِنْدَهُ عَلَى العَرْشِ.** د مخلوقاتو له پيدايښت څخه ړومبی کله چې الله تعالی اراده وکړه چې مخلوقات پيدا کړي، په هغه کتاب کې چې له الله تعالی سره د عرش دپاسه وو وليکل: زما رحمت زما پر غضب باندې غالب دی.

**(٨٤) ـ قَدْ أَعْجَزَ عَنِ الإِحاطَةِ خَلْقَهُ.**
**(٨٤) ـ** او الله تعالی خپل مخلوقات د خپل (ذات او صفاتو) له احاطې څخه عاجزه کړي دي.

*(*)*

**(٨٥) ـ وَ نَقُوْلُ: إِنَّ اللَّهَ اتَّخَذَ إِبْراهيمَ خَليلاً، وَكَلَّمَ مُوسَى تَكْليماً، إِيماناً وَ تَصْديقاً وَ تَسْليماً.**
**(٨٥) ـ** او دا وايو چې الله تعالی ابراهيم عليه السلام خپل خليل(دوست) ګرزولی دی، او له موسی عليه السلام سره يې خبرې کړې دي. مونږ په دې ايمان لرو او دا رښتيا بلو او په حقيقت يې تسليم يو.

**(٨٦) ـ وَ نُؤْمِنُ بِـالمَلائِكَةِ وَ النَّبِيِّينَ، وَالكُتُبِ المُنْزَلَةِ عَلى المُرْسَلينَ. وَ نَشْهَدُ أَنَّهُم كانوا عَلى الحَقِّ المُبينِ.**
**(٨٦) ـ** مونږ په ملائکو، پيغمبرانو او په کومو کتابونو چې پر رسولانو باندی نازل شوی دی ايمان لرو، او پدې شاهدي وايو چې هغوی په څرګنده حق باندې ؤ.

**(٨٧) ـ وَ نُسَمِّي أَهْلَ قِبْلَتِـنا مُسْلِمينَ مُؤْمِنينَ ما دامُوا بِما جاءَ بِـهِ النَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلاةُ وَ السَّلامُ مُعْتَرِفينَ، وَلَهُ بِكُلِّ ما قالَ وَأَخْبَرَ مُصَدِّقينَ غَيْرَ مُكَذِّبِيْنَ.**
**(٨٧) ـ** مونږ تر هغې د خپلې قبلې اهل، مؤمنان او مسلمانان بولو چې د نبي صلی الله عليه وسلم په ټولو راوړل شوو شيانو اعتراف وکړي، او د هغه صلی الله عليه وسلم ټولې ويناوې او اخبار رښتوني وبولي او دروغ يې ونه ګڼي.

**(٨٨) ـ وَلا نَخوضُ في اللَّهِ، وَلا نُماري في دينِ اللَّهِ تَعالى.**
**(٨٨) ـ** مونږ د الله تعالی په هکله په خبرو کې ځان نه شامله وو، او د الله تعالی د دين په هکله منازعه هم نه کوو.

---

همدارنګه قرآنکريم د الواقعې په سورت کې د لوح محفوظ په هکله فرمايي: **إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ، فِي كِتَابٍ مَكْنُونٍ،** (اللوح المحفوظ) **لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ.** الواقعه (٧٧- ٧٩)
يعنی: او بيشکه (قسم) خامخا قسم دی که پو هيږی تاسې عظيم ډير لوی چه بيشکه دا (کتاب لوستی شوی په تا باندې) خامخا قرآنکريم عزت والا دی (چه ليکل شوی دی) په کتاب پټ ساتلی شوی (لوح محفوظ) کښې چه نه يې مسه کوی ده لره او نه دې يې مسه کوي مګر هغه چه پاک کړی شوی وي (يعنی پاکان).
او لدې ځايه معلومه شوه چې الملائکة المطهَّرون په فوق العرش کې دي، والله اعلم.
دلته د (**عِنْدَهُ**: له هغه سره) لفظ دې لپاره راوړل شوی دی چې د الله تعالی په نزد د عرش سترتوب عظمت او تکريم څرګند شي، لکه چې الله تعالی د تحريم په سورت کې د بی بی آسيې د دعاء په هکله فرمايي: **إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ.** (١١) يعني کله چې وويل دې، اې ربه زما جوړ کړه ما ته په نزد خپل يو کور په جنت کښې.
او رسول الله صلی الله عليه وسلم هم په يوه قدسي حديث کې فرمايلي دي، چې الله تعالی فرمايي: **قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي.** يعني زه د خپل بنده له هغه ګومان سره يم چې پر ما يې لری.
بخاري: ٧٤٠٥ حديث.

**(٨٩) ـ وَلا نُجادِلُ فِي القُرْآنِ؛ وَنَشْهَدُ أَنَّهُ كَلامُ رَبِّ العالَمينَ، نَزَلَ بِـهِ الرُّوحُ الأَمينُ، فَعَلَّمَهُ سَيِّدَ المُرْسَلينَ، مُحَمَّداً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَ عَلى آلِـهِ وَ صَحْبِـهِ أَجْمَعينَ.**

**(٨٩) ـ** مونږ د قرآنکريم په هکله شخړه (مجادله) نه کوو، او پدې شاهدي وايو چې هغه د عالميانو د پالونکي هغه کتاب دی، چې جبرئيل امين نازل کړی، او د مرسلينو سردار حضرت محمد صلی الله عليه وعلی آله وصحبه اجمعين ته يې ښودلی دی.

**(٩٠) ـ وَ كلامُ اللَّهِ تَعالى لا يُساوِيهِ شَيْءٌ مِنْ كَلامِ المَخْلوقينَ. وَلا نَقولُ بِـخَلْقِ القُرْآنِ.**

**(٩٠) ـ** او د مخلوقاتو هيڅ يوه خبره هم د الله تعالی له خبرو سره برابريدلای نشي او مشابهت نلري، او دا هم نه وايو چې قران پيدا کړل شوی دی.

*(*)*

**(٩١) ـ وَلا نُخالِفُ جَماعَةَ المُسْلِمينَ،**

**(٩١) ـ** مونږ د مسلمانانو له ستر او عظيم جماعت «سواد اعظم»[١] سره مخالفت نه کوو.

**(٩٢) ـ ولا نُكَفِّرُ أحداً من أهل القبلة بذنب، مالم يستحله،**

**(٩٢) ـ** مونږ د قبلې هيڅ يو اهل هم د ګناه په کولو سره تر هغه کافر نه بولو چې ګناه يې حلاله نوي بللې.

**(٩٣) ـ ولا نَقولُ لا يَضُرُّ مَعَ الإِسْلامِ ذَنْبٌ لِمَنْ عَمِلَهُ،**

**(٩٣) ـ** او دا هم نه وايو چې له مسلمانيدلو څخه وروسته ګناه کول مسلمان ته تاوان نه لري.

**(٩٤) ـ وَ نَرْجو لِلْمُحْسنينَ مِنَ المُؤْمِنينَ، أنْ يَعْفُوَ عَنْهُمْ وَ يُدْخِلَهُمُ الجَنَّةَ بِرَحمْتِهِ، وَلا نَأْمَنُ عَلَيْهِمْ، وَلا نَشْهَدُ لَهُمْ بالجَنَّةِ، وَنَسْتَغْفِرُ لِمُسيئِهِمْ، وَنَخافُ عَلَيْهِمْ وَلا نُقَنِّطُهُمْ.**

**(٩٤) ـ** د نيک عمله مسلمانانو په هکله هيله من يو چې الله تعالی به دوی وبښي او په خپل رحمت سره يې جنت ته داخل کړي، خو د هغوی د عقوبت (جزا) په هکله ډاډه نه يو، او د هغوی په جنتي کيدلو شاهدي نه وايو، او ګناهګارو مسلمانانو ته له الله تعالی څخه ښښنه غواړو، په هغوی باندې وېرېږو او د الله تعالی له رحمت څخه بې هيلې هم نه يو.

---

[١] «سواد اعظم» يعني اهل سنت والجماعت چې د مسلمانانو قاطع اکثريت دی، او له سواد اعظم (د مسلمانانو له ستر او عظيم جماعت) سره د مخالفت د نه کولو نه مراد دا دی چې د امت د مجتهدينو امامانو له اجماع سره دې مخالفت ونکړی شي.

امام ميداني رحمه الله په خپل شرح العقيدة الطحاوية (٩٥ مخ) کې ليکلي دي: لدې امله چې الله تعالی دا امت په ګمراهی باندې له اتفاق کولو څخه ژغورلی دي، نو هر څوک چې د دې امت د امامانو له اجماع سره مخالفت وکړي هغه به هرو مرو له ګمراهانو څخه وي، لکه چې الله تعالی د دې امت د اجماع د عصمت په هکله فرمايي: **وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا.** سورة النساء (١١٥). او هر څوک چه مخالفت کوي له رسوله وروسته له هغه چه ښکاره شوه ده ته سمه لاره او تابع شي (لاړ شی) بې له لارې د مومنانو نو وبه ګرځوو مونږ دی هغه لوري ته چې دی ګرځيدلي دی او داخل به کړو مونږ دی جهنم (دوزخ) ته او بد ځای د ورتلو دی (دا دوزخ).

**(٩٥) ـ وَالأَمْنُ وَالإِياسُ يَنْقُلانِ عَنِ المِلَّةِ؛ وَسَبيلُ الحَقِّ بَيْنَهُما لأَهْلِ القِبْلَةِ،**
**(٩٥)** ـ د «الله تعالى له عذاب څخه» ډاډه كيدل، او دارنګه د «الله تعالى له رحمت څخه نا هيلي كيدل» انسان د دين له لارى څخه كاږي، او د مسلمان لپاره حق لاره د دې دواړو تر منځ ده.

**(٩٦) ـ وَلا يَخْرُجُ العَبْدُ مِنَ الإِيمانِ إلاَّ بِجُحُودِ ما أَدْخَلَهُ فيهِ.**
**(٩٦)** ـ بنده له ايمان څخه نه وځي، مګر دا چې له هغه شي څخه انكار وكړي چې هغه يې په ايمان كې ننه ايستلى دى.

*(*)*

**(٩٧) ـ وَالإِيمانُ هُوَ الإِقْرارُ بِاللِّسانِ وَالتَّصْديقُ بِالجَنانِ،**
**(٩٧)** ـ ايمان په ژبه باندې وينا او په زړه باندې منل او رښتيا بلل دي.

**(٩٨) ـ وَأَنَّ جَميعَ ما أَنْزَلَ اللَّهُ في القُرْآنِ، وَجَميعَ ما صَحَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الشَّرْعِ وَالبَيانِ كُلُّهُ حَقٌّ.**
**(٩٨)** ـ مونږ پدې عقيده يو چې ټول هغه څه چې الله تعالى په قران كې نازل كړي دي او د هغه ټول شرعي احكام او تفسير چې له رسول الله څخه صحيح ثابت شوي دي حق دي.

**(٩٩) ـ وَالايمان وَاحِدٌ وَ أهلُهُ فِى أصْلِه سَوَاء. وَ التَّفَاضِلُ بَينَهُمْ بِالتَّقْوَى وَمُخَالَفَةِ الهَوَى وَمُلاَزَمَةِ الأُولَى،**
**(٩٩)** ـ ايمان يو دى، او د ايمان په حقيقت كې د ايمان اهل ټول سره برابر دي، او پر يو بل باندې لوړوالى يې په ځان ژغورنه (پرهيزګارى) او له نفساني غوښتنو څخه په مخالفت او په ديني مستحباتو باندې په پابندۍ سره كيدلاى شي.[1]

**(١٠٠) ـ وَ المُؤْمِنونَ كُلُّهُمْ أَوْلِياءُ الرَّحْمنِ، وَأَكْرَمُهُمْ أَطْوَعُهُمْ وَ أَتْبَعُهُمْ لِلْقُرْآنِ.**
**(١٠٠)** ـ ټول مؤمنان د رحمن خداى دوستان دي، او تر ټولو د ډېر كرامت لرونكى هغه مؤمن دى چې تر ټولو ډير د قرانكريم فرمانبردار او تابعدار وي.

**(١٠١) ـ وَ الإِيمانُ: هُوَ الإِيمانُ باللَّهِ وَ مَلائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وُ رُسُلِهِ وَ اليَوْمِ الآخِرِ، وَ البَعْثِ بَعْدَ المَوْتِ، وَ القَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ؛ وَحُلْوُهِ وَمُرُّهِ مِنَ اللَّهِ تَعالى.**
**(١٠١)** ـ ايمان: په الله تعالى، ملائكو، د الله تعالى په كتابونو، د الله تعالى په رسولانو، په آخري ورځ، له مړيني څخه وروسته په ژوندي كيدلو باندې باور كول دي او پدې باندې ايمان لرل چې د خير او شر اندازه، كه خوږ دى او كه تريخ دى ټول د الله تعالى له لوري دي.

---

[1] د مثال په توګه: ټول انسانان په اصل انسانيت كې سره يو دي، او ټول سره برابر دي، خو د هغوى په يو بل باندې غوره كيدل د علم، عقل، پوهي او داسي نورو په سبب كيدلاى شي.
بل مثال: نور په خپل حقيقت كې ټول يو دى، او ټول انوار په نوريّت كې سره برابر دي، خو ددى انوارو توپير په ضعف، قوت، رنګ او داسي نورو كې دى.

**(١٠٢) ـ وَنَحْنُ مُؤْمِنونَ بذلِكَ كُلِّهِ،**
**(١٠٢) ـ** او مونږ پدې ټولو ویل شوو ایمان لرو.

**(١٠٣) ـ وَلا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ، وَ نُصَدِّقُهُمْ كُلَّهُمْ عَلَى مَا جَاءُوا بِهِ.**
**(١٠٣) ـ** مونږ د هيڅ يو رسول تر منځ توپير نه کوو، او دوی ټول په راوړل شوو شيانو کې رينتوني بولو.

**(١٠٤) ـ وَأَهْلُ الكَبائِرِ مِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في النَّارِ لا يُخَلَّدونَ إذا ماتوا، وَهُمْ مُوَحِّدُونَ وَإِنْ لَمْ يَكونُوا تائِبينَ بَعْدَ أَنْ لَقُوا اللهَ عارِفينَ مُؤْمِنينَ،**
**(١٠٤) ـ** او د محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم هغه امتيان چې په سترو ګناهونو اخته شوي دي، که له دنيا څخه په توحيد سره ولاړ شي، او له الله تعالی سره پداسې حالت کې مخامخ شي چې د الله پيژندونکي مؤمنان وي، د تل لپاره به په دوزخ کې پاتې نشي، که څه هم توبه يې کړې نه وي.

**(١٠٥) ـ وَهُمْ في مَشيئَتِهِ وَحُكْمِهِ إنْ شاءَ غَفَرَ لَهُمْ، وَعَفا عَنْهُمْ بفَضْلِهِ، كَما قالَ تَعالى في كِتابِهِ العَزيزِ+ إِنَّ اللَّهَ لاَ يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذلكَ لِمَنْ يَشَاءُ. وَإِنْ شاءَ عَذَّبَهُمْ فِي النَّارِ بِقَدْرِ جِنايَتِهِمْ بعَدْلِهِ، ثُمَّ يُخْرِجُهُمْ مِنْها بِرَحْمَتِهِ وَ شَفاعَةِ الشَّافِعينَ مِنْ أَهْلِ طاعَتِهِ،ثُمَّ يَبْعَثُهُمْ إِلى جَنَّتِهِ،**
**(١٠٥) ـ** او هغوی به د الله تعالی د مشيئت او حکم لاندې وي، که الله تعالی وغواړي هغوی ته به بښنه وکړي او په خپل فضل سره به له هغوی څخه تير شي، لکه چې په خپل عزيز کتاب کې فرمايي: **إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ...** بيشکه الله نه کوي مغفرت (نه بښي) دا چه شريک ونيول شي له ده سره او مغفرت کوي (بښي) هغه ګناه چې ښکته وی له دې (شرک او کفر نه) هغه چا ته چې اراده وفرمايي (د مغفرت يې). سورة النساء (١١٦).
او که الله تعالی وغواړي په خپل عدل سره هغوي ته به د خپلو ګناهونو په اندازه په دوزخ کې عذاب ورکړي، او وروسته به يې په خپل رحمت سره او يا د طاعت کوونکو سپارښتيانو په شفاعت سره له دوزخ څخه بهر کړي، او بيا به يې جنت ته وليږي.

**(١٠٦) ـ وَ ذلكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلى أَهْلِ مَعْرِفَتِهِ، وَلَمْ يَجْعَلْهُمْ في الدَّارَيْنِ كَأَهْلِ نُكْرَتِهِ، الَّذينَ خابُوا مِنْ هِدايَتِهِ، وَلَمْ يَنالُوا مِنْ وِلايَتِهِ.**
**اللَّهُمَّ يا وَلِيَّ الإِسْلامِ وَأَهْلِهِ مَسِّكْنا بالإِسْلامِ حَتَّى نَلْقاكَ بِهِ.**
**(١٠٦) ـ** ځکه الله تعالی له هغه کسانو سره مل دی چې الله پيژني، نو هغوی به د هغو منکرينو په شان نکړي چې له هدايت څخه يې بې برخې کړي او د هغه قرب او دوستي يې لاسته نده راوړې.
اې الله اې د اسلام او د اسلام د اهل دوست او کار جوړونکيه! مونږ تر هغه په اسلام ټينګ وساته چې له تا سره مخامخ شو.

*(*)*

**(١٠٧) ـ وَ نَرَي الصَّلاةَ خَلفَ كُلِّ بَرٍّ وَ فَاجِرٍ مِن أهلِ القِبلَةِ، و نُصَلِّى عَلَي مَن مَاتَ منهم.**

**(١٠٧)** ـ مونږ د قبلې له اهل څخه د هر نيک عمله او بد عمله انسان پسې لمونځ کول جايز بولو [١]، او لدې کسانو څخه چې هر څوک ومري د جنازې لمونځ ور باندې کوو.

**(١٠٨) ـ ولا نُنزِّلُ أحداً مِنهُم جَنَّـةً ولا نـاراً، ولا نَشهَدُ عَلَيهِم بِكُفرٍ ولا شِركٍ وَلا نِفَاقٍ مَا لَم يَظهَر مِنهُم مِن ذَلِکَ شَیءٌ، و نذر سَرَائِرَهُم إِلَی اللہ تَعالَی.**

**(١٠٨)** ـ مونږ له هغوی څخه هيڅ يوه ته هم [له خپله لوري] دوزخي يا جنتي نه وايو، او د هيڅ يوه په شرک او کفر او نفاق حکم نه کوو، تر هغه پورې چې لدوی څخه د دې شيانو نه يو څرګند نشي، او د هغوی باطني امور الله تعالی ته سپارو.

**(١٠٩) ـ وَلا نَرىَ السَّيْفَ عَلَى أحَدٍ مِنْ أُمَّةِ مُحمدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إلّا مَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ السَّيْف،**

**(١٠٩)** ـ مونږ د محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم په هيڅ امتي باندې د تورې ايستل او د هغوی وينه تويول جايز نه بولو، مګر هغه وينه چې اسلام يې تويول واجب کړي وي.

**(١١٠) ـ ولا نَرىَ الْخُرُوجَ عَلَى اَئمَّتِنَا وَ وُلاةِ اُمُورِنا وَاِنْ جَارُوْا، وَلا نَدْعُو عَلَى أحَدٍ مِّنْهُمْ، وَلا نَنْزِعُ يَداً مِنْ طاعَتِهِمْ وَ نَرىَ طاعَتَهُمْ مِنْ طاعَةِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ فَرِيْضَةً مَا لَمْ يامُرُوا بِمَعْصِيَةٍ وَ نَدْعُو لهم بِالصَّلاحِ وَالمعافاةِ.**

**(١١٠)** ـ مونږ د خپلو اميرانو او حاکمانو پرخلاف که څه هم ظالمان وي پاڅون کول جايز نه بولو، او هيڅ يوه ته يې ښيرې نه کوو، او د هغوي اطاعت په ځان واجب او د الله تعالی اطاعت بولو، او هغوی ته د خير اوصلاح دعاګانې کوو، خو تر هغه پورې چې مونژ ته يې په ګناه کولو امر نوي کړی.

*(*)*

**(١١١) ـ وَ نَتَّبِعُ السُّنَّةَ وَ الجَماعَةَ، وَنَجْتَنِبُ الشُّذوذَ وَالخِلافِ وَالفُرْقَةَ،**

**(١١١)** ـ مونږ د سنت او جماعت [٢] متابعت کوو، او له شاذو نظرياتو څخه او د مسلمانانو له سواد اعظم (ستر او عظيم جماعت) سره مخالفت نه کوو، او له بيلتون او بې اتفاقۍ اچونې څخه ډډه کوو. [٣]

---

[١] په فاسق امام پسې لکه چې وويل شو لمونځ جايز دی، خو د هغه فسق د لمانځه د مکروه کيدلو سبب ګرځي، نو کوښښ بايد وکړی شي چې د امامت لپاره نيک او پرهيزګاره شخص وټاکل شي.

[٢] **سنت:** د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغوی د ښاغلو راشدينو خلفاوو رضی الله عنهم اجمعين چار چلند (طريقی) ته ويل کيږي، او له **جماعت** څخه مراد: د اصحاب کرامو، تابعينو، تبع تابعينو، او د اسلامي امت د مجتهدينو جماعت دی.

[٣] **شاذ نظريات:** له سواد اعظم سره مخالفت، يعني په عقيدوي او فقهي مسايلو کې د اسلامي امت د مجتهدينو له اجماع سره مخالفت، او د هغوی په خلاف رايه غوره کول دي.

د مثال په توګه: جنت او دوزخ د امت په اجماع سره تل پاتي دي، او هيڅ کله به هم فنا نشي، د نبي صلی الله عليه وسلم د مرقد زيارت کول د امت د اجماع پر بنسټ مستحب دي، مُتعه يا لنډ مهاله نکاح (موقتي نکاح) د امت په اجماع سره حرامه ده، په يوه لفظ باندې درې طلاقه د امت په اجماع سره لازم ګرځي، او ښځه په خاوند باندې حراموي، د اسلامي امت له څلورګونو مجتهدينو څخه چې امام اعظم ابو حنيفه، امام مالک، امام شافعي او امام

**(١١٢) ـ وَنُحِبُّ أَهْلَ العَدْلِ وَالأَمانَةِ، وَنُبْغِضُ أَهْلَ الجَوْرِ وَالخِيانَةِ.**
**(١١٢) ـ** د عدل او امانت اهل زمونږ خوښ دي، او د ظلم او خيانت له اهل سره کينه کوو.[١]

*(*)*

**(١١٣) ـ وَ نَقُوْلُ: اللهُ أعلمُ فِيما اشْتبه علينا عِلمُهُ،**
**(١١٣) ـ** او د کوم شي په پوهيدلو کې چې زمونږ علم مشتبه (مشکوک) شي وايو چې: والله اعلم.

*(*)*

**(١١٤) ـ وَ نَرى المَسْحَ عَلَى الخُفَّيْنِ في السَّفَرِ وَالحَضَرِ، كَما جاءَ في الأَثَرِ.**
**(١١٤) ـ** مونږ پدې معتقد يو چې په سفر او حضر کې په چرمي موزو باندې مسحه کول څرنګه چې په احاديثو کې ثابته ده صحيح او جايز دي.

**(١١٥) ـ وَالحَجُّ وَالجِهادُ فَرْضانِ ماضِيانِ مَعَ أُوْلي الأَمْرِ مِنْ أَئِمَّةِ المُسْلِمينَ، بَرِّهِمْ وَفاجِرِهِمْ إِلَى يَومِ القِيَامَةِ، لا يُبْطِلُهُما شَيْءٌ، وَلا يَنْقُضُهُما.**
**(١١٥) ـ** حج او جهاد دوه هغه فريضې دي چې د مسلمانو اميرانو تر قيادت لاندې که هغوی ښه خلک وي او که بد خلک د قيامت تر ورځې پورې به تلپاتې وي، هيڅ شئ هم هغه له منځه نشي وړی، او نه هغه لغوه کولای شي.

**(١١٦) ـ وَنُؤْمِنُ بالكِرامِ الكاتِبينَ، وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ جَعَلَهُمْ عَلَينَاحافِظِينَ،**
**(١١٦) ـ** مونږ د کرام الکاتبين پر ملائکو باندې ايمان لرو او پدې هم ايمان لرو چې الله تعالی هغه زمونږ د ساتنې لپاره مقرري کړې دي.

**(١١٧) ـ وَ نُؤْمِنُ بِمَلَكَ المَوْتِ المُوَكَّلِ بِقَبْضِ أَرْواحِ العالَمينَ.**
**(١١٧) ـ** مونږ د مرګ په ملکې (ملک الموت)باندې داسې ايمان لرو چې الله تعالی هغه د نړيوالو د روح د اخيستنې لپاره مقرري کړي دی.

---

احمد بن حنبل رحمهم الله دي، د يوه کس پيروي کول پدې وخت کې واجبه ده، او د هغوي له مذهبونو څخه وتل حرام دي، او د تراويح د لمانځه د رکعتونو اقل شمير د امت په اجماع سره شل رکعته دی.
نو هر څوک چې د دې اجماع خلاف دعوی وکړي، او ووايي چې: جنت يا دوزخ فنا کيږي، يا د نبي صلی الله عليه وسلم مرقد ته د زيارت په نيت ورتلل حرام دي، يا موقتی نکاح (مُتعه) حرامه نده، يا په يوه لفظ باندې درې طلاقه يو طلاق دی، يا د امت له مجتهدينو (امام اعظم ابوحنيفه، امام مالک، امام شافعي ، امام احمد بن حنبل) څخه د يوه امام پيروي کول واجب ندي، يا تراويح اته يا دولس رکعته دي، نو داسې رايې شاذې رايي دي او د مسلمانانو له سواد اعظم سره مخالفت دی، او دا راز وينا او خبرې د مسلمانانو تر منځ د نفاق او بيلتون اچول دي. داسې شخص اهل بدعت دی، او د اهل سنت والجماعت له دايرې څخه بهر دی، او ځای به يې د دوزخ اور وي، بلکه د دوزخ او جنت د فنا کيدلو په نظريې سره د اسلام له دايرې څخه هم وځي.
[١] له هغوی سره د مينې او کينې څخه مراد د هغوی د ښو اعمالو سره مينه او له ناوړه اعمالو څخه کرکه ده، نه د هغوی له ذات سره مينه او کينه کول. پر عقيدة الطحاوي باندې د غزنوي شرح. (١٣٢مخ)

**(١١٨) ـ وَبعذابِ القَبْرِ لِمَنْ كانَ لَهُ أَهْلاً.**
**(١١٨) ـ** مونږ پدې ايمان لرو چې د عذاب وړ بنده ته به په قبر کې عذاب ورکول کيږي.

**(١١٩) ـ وَ بِسُؤالِ مُنْكَرٍ وَ نَكيرٍ لِلمَيِّتِ في قَبْرِه، عَنْ رَبِّه وَ دينِه وَ نَبِيِّه، عَلى ما جاءَتْ بِهِ الأَخْبارُ عَنْ رَسولِ رَبِّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ عَنِ الصَّحابَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ أَجْمَعينَ.**
**(١١٩) ـ** مونږ پدې ايمان لرو چې «نکير» او «منکر» به په قبر کې له مړي څخه د هغه د رب، دين او نبي په هکله پوښتنه کوي، څرنګه چې په اخبارو کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم او اصحاب کرامو رضي الله عنهم اجمعين څخه راغلي دي.

**(١٢٠) ـ وَ القَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِياضِ الجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ.**
**(١٢٠) ـ** قبر يا د جنت له باغچو څخه يوه باغچه ده، او يا هم د دوزخ له کندو څخه يوه کنده ده.

**(١٢١) ـ وَ نُؤْمِنُ بالبَعْثِ وَ بجزاءِ الأَعْمالِ يَوْمَ القِيامَةِ، وَ العَرْضِ وَ الحِسابِ، وَقِراءَةِ الكِتابِ،وَ الثَّوابِ وَ العِقابِ، وَ الصّراطِ،**
**(١٢١) ـ** مونږ له مړينې څخه وروسته په بيا را ژوندي کيدلو او د قيامت په ورځ د الله په وړاندې د اعمالو پر وړاندې کيدلو او د عملنامې په ويلو سره، د اعمالو په جزا، د دنيايي ژوند په حساب، او د صراط په پله باندې ايمان لرو.

**(١٢٢) ـ وَالميزانِ،يُوزَنُ بِهِ أَعْمالُ المُؤْمِنينَ مِنْ الخَيْرِ وَالشَّرِّ وَ الطَّاعَةِ وَ المَعْصِيَةِ.**
**(١٢٢) ـ** او په تلې (ميزان) هم ايمان لرو، چې په هغه باندې د مؤمنانو خير، شر، طاعت او معصيت تلل کيږي.

**(١٢٣) ـ وَ الجَنَّةُ وَ النَّارُ مَخْلوقَتانِ لا يَفْنَيانِ، وَلايَبيدانِ،**
**(١٢٣) ـ** جنت او اور يعنې دوزخ دوه داسې مخلوق دي چې نه فنا کيږي او نه له منځه ځي.

**(١٢٤) ـ وَإِنَّ اللّٰهَ تَعالى خَلَقَ الجَنَّةَ وَ النَّارَ، قَبْلَ الخَلقِ، وَ خَلَقَ لَهُما أَهْلاً، فَمَنْ شاءَ إِلى الجَنَّةِ أَدْخَلَهُ فَضْلاً مِنْهُ، وَ مَنْ شاءَ مِنْهُمْ إِلى النَّارِ أَدْخَلَهُ عَدْلاً مِنْهُ.**
**(١٢٤) ـ** الله تعالى جنت او اور (دوزخ) د مخلوقاتو له پيدايښت څخه وړاندې پيدا کړي ؤ او بيا هر يوه ته يې اهل پيدا کړل، نو الله تعالى له خپلې غوښتنې سره سم څوک په خپل سره فضل جنت ته داخلوي او څوک په خپل عدل سره دوزخ ته داخلوي.[1]

[1] امام اعظم رحمه الله په خپل کتاب «الفقه الاکبر» (٥ مخ) کې فرمايلي دي:
الله تعالى خپل مخلوقات له کفر او ايمان څخه پرته پيدا کړل، بيا وروسته يې هغوی په امر او نهيې مخاطب کړل، که څوک کافر شول نو په خپل فعل، په خپل انکار، او په خپل سر کښې باندې کافر شوي دي، او هر چا چې ايمان راوړ هغه په خپل فعل او خپل تصديق او خپل اقرار او په الهي مرسته او توفيق يې ايمان راوړی دی، الله تعالى له خپلو بندګانو څخه هيڅ څوک په کفر کولو يا ايمان راوړلو نه مجبوروي، او نه څوک مؤمن يا کافر پيدا کوي، بلکه هغوی ټول اشخاص (له کفر او ايمان څخه پرته) پيدا کوي، نو ايمان راوړل او کفر کول د بندګانو خپل کار دی.

**(۱۲۵) ـ وَكُلٌّ يَعْمَلُ لِما قَدْ فُرِغَ مِنْهُ، وَصائِرٌ إِلى ما خُلِقَ لَهُ.**
**(۱۲۵) ـ** هر څوک هغه عمل کوي کوم چې ورته مقدر شوی دی، او کوم ځای ته روان دی چې ورته پیدا کړل شوی دی.

**(۱۲٦) ـ وَالخَيْرُ وَالشَّرُّ مُقَدَّرانِ عَلى العِبادِ،**
**(۱۲٦) ـ** خیر او شر په بندګانو باندې ټاکل شوي او مقدر شوي دي.

**(۱۲۷) ـ وَالاسْتِطاعَةُ الَّتي يَجِبُ بِها الفِعْلُ مِنْ نَحْوِ التَّوْفيقِ الَّذي لا يَجُوزُ أَنْ يُوْصَفَ المَخْلوقُ بها تَكونُ مَعَ الفِعْلِ، وَأَمَّا الاسْتِطاعَةُ مِنَ الصِّحَّةِ وَالْوُسْعِ وَالتَّمَكُّنِ، وَسلامَةِ الآلاتِ فَهِيَ قَبْلَ الفِعْلِ، وَبِها يَتَعَلَّقُ الخِطابُ، وَهُوَ كَما قالَ اللَّهُ تَعالى: لاَ يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْساً إِلاَّ وُسْعَهَا.**
**(۱۲۷) ـ** په کوم استطاعت سره چې فعل منځ ته راځي د هغه الهي توفیق په څیر دی چې په هغه باندې د مخلوق موصوف کیدل جایز ندي، هغه استطاعت له فعل سره په یوه وخت کې وي، او کوم استطاعت چې د روغتیا، وړتیا، توانایي، او د اسبابو سلامتي ده نو هغه له فعل څخه ړومبی وي، چې شرعي احکام په همدې استطاعت پورې اړوند دي، لکه چې الله تعالی فرمایلي: **لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ....** نه کوي تکلیف الله پر هیڅ نفس باندې مګر په اندازې د طاقت دده. البقرة (۲۸٦).

**(۱۲۸) ـ وَأَفْعالُ العِبادِ هِيَ بِخَلْقِ اللَّهِ تَعالى وَ كَسْبٍ مِنَ العباد.**
**(۱۲۸) ـ** د بندګانو اعمال د الله تعالی په پیداینت او د بنده ګانو په لاسته راوړني سره وي.[۱]

**(۱۲۹) ـ ولم يُكلِّفهم الله تعالى إلا ما يطيقون، ولايطيقون إلا ما كلَّفهم. وَ هُوَ حَاصِلُ تَفْسِيرِ لا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلّا بِالله.**
**(۱۲۹) ـ** الله تعالی خپل بندګان ندي مکلف کړی مګر په هغه شي باندې چې کولای یې شي، او بندګان یوازې د هم هغه شي توان لري چې الله تعالی پرې مکلف کړی دي[۲]، چې همدا د «لا حول ولا قوة الا بالله» د معنی حاصل دی، یعنې د الله (ج) د غوښتنې پرته هیڅ توان مندي او هیڅ قوت نشته.

---

[۱] د دې مثال په دنیا کې د پیسو مثال دی، خلک کار او کسب کوي او پیسې لاسته راوړي، خو دا پیسې یې په خپله ندي جوړې کړي، بلکه د هغوی حکومتونو جوړې کړې دي، نو که څه هم دا پیسې دې کس په خپل کسب سره لاسته راوړي دي، خو د هغو جوړونکی حکومت دی، نو همدا شان شخص چې څومره اعمال کوي ټول یې خپلې لاسته راوړني دی، خو د هغوی جوړونکی او خالق الله تعالی دی.

[۲] الله تعالی خپل بندګان په خپل دین باندې مکلف کړي دي، او د الله تعالی په دین کې عقاید او اعمال که فرض، واجب، سنت، مستحب، اولی دي؛ او که حرام، حلال، مکروه تحریمي، مکروه تنزیهي، او که د اولی خلاف دي. بندګان د دې ټولو د کولو توان لري، او لدې څخه د ډېرو توان نلري، لکه چې الله تعالی فرمایلي: **لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا.** نه پوښتيدلی کیږي (الله) له هغو شیانو چه کوی یې تاسو (ځکه چه الوهیت یوازې دده صفت دی. او دوی پوښتیدلي کیږي (ددوی له افعالو، احوالو او اقوالو څخه ځکه چې دوی مخلوق او مملوک دی).

**(١٣٠) ـ نَقُوْلُ: لا حيلةَ لأحدٍ، وَلا حَرَكَةَ لأحدٍ، وَلاتَحَوَّلَ لِأحَدٍ عَنْ مَعْصِيَةِ الله، إلّا بمعُونَةِ الله، وَلا قُوَّةَ لأحدٍ عَلَى إقامَةِ طاعَةِ اللهِ وَالثَّباتِ عَلَيها إلّا بتَوْفِيْقِ الله.**

(١٣٠) ـ هيڅ څوک کومه چاره نشي لرلی، او هيڅ څوک خوځيدلای نشي، او هيڅ څوک هم د الله له معصيت څخه ځان ژغورلی نشي، مګر د الله تعالی له مرستې سره. او هيڅ څوک د الله تعالی د اطاعت توان نشي لرلی، او په هغه باندې د ټينګيدلو توان نشي لرلی مګر خو د الله تعالی په توفيق سره.

**(١٣١) ـ وَكُلُّ شَيْءٍ يَجْري بمَشيئَةِ اللَّهِ عَزَّوَجَلَّ وَ عِلْمِهِ وَ قَضائِهِ وَ قَدَرِهِ.**

(١٣١) ـ ټول شيان د الله تعالی په غوښتنه، علم، قضاء او قدر باندې خوځيږي.

**(١٣٢) ـ غَلَبَتْ مَشيئَتُهُ المَشيئاتِ كُلَّها، وَغَلَبَ قَضاؤُهُ الحِيَلَ كُلَّها،**

(١٣٢) ـ د هغه غوښتنه په ټولو غوښتنو او حکم يې په ټولو احکامو باندې غالبه ده.

**(١٣٣) ـ يَفْعَلُ ما شاءَ وَ هُوَ غَيْرُ ظالِمٍ أَبَداً.**

(١٣٣) ـ هغه چې څه وغواړي کولای شي، او هيڅ کله هم تيری کوونکی ندی.

**(١٣٤) ـ تَقَدَّسَ عَنْ كُلِّ سُوءٍ وَ حَيْنٍ، وَتَنَزَّهَ عَنْ كُلِّ عَيْبٍ وَشَيْنٍ، لاَ يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُوْنَ.**

(١٣٤) ـ هغه له هرې بدئ او ناوړتيا څخه پاک دی، او له هر عيب او نقص څخه مُنزَّه دی. الله تعالی فرمايي: **لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُونَ.** نه پوښتيدلی کيږي (الله) له هغو شيانو چه کوی يې (ځکه چه الوهيت يوازې دده صفت دی.او دوی پوښتيدلي کيږي(ددوی له افعالو، احوالو او اقوالو ځکه چې دوی مخلوق او مملوک دي). سورة الانبياء (٢٣).

*(*)*

**(١٣٥) ـ وَفي دُعاءِ الأَحْياءِ للأَمْواتِ وَ صَدَقَتِهِمْ مَنْفَعَةٌ لِلأَمْواتِ.**

(١٣٥) ـ مړو ته د ژوندو په دعاء ګانو او خيراتونو کې ګټه شته.

**(١٣٦) ـ وَاللَّهُ تَعالى يَسْتَجيبُ الدَّعَواتِ، وَيَقْضي الحاجاتِ،**

(١٣٦) ـ الله تعالی دعاګانې قبلوي او اړتياوې بشپړوي.

**(١٣٧) ـ وَيَمْلِكُ كُلَّ شَيْءٍ، وَلايَمْلِكُهُ شَيْءٌ،**

(١٣٧) ـ هغه د ټولو شيانو خاوند دی، خو هيڅ شئ د هغه مالک نشي کيدلای.

**(١٣٨) ـ وَلا يُسْتَغْنى عَنِ اللَّهِ تَعالى طَرْفَةَ عَيْنٍ، وَمَنِ اسْتَغْنَى عَنِ اللَّهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ فَقَدْ كَفَرَ، وَصارَ مِنْ أَهْلِ الخُسْرانِ.**

(١٣٨) ـ د سترګو د يوه رپ په اندازه هم له الله تعالی څخه مستغني (بی نيازه) کيدلای نشو، او چا چې ځان له الله تعالی څخه د سترګو د يوه رپ په اندازه موده کې ځان مستغني (بی نيازه) وباله نو په تحقيق سره کافراو تاواني شوی دی.

*(*)*

**(١٣٩) ـ وَإِنَّ اللَّهَ تَعالى يَغْضَبُ وَيَرْضَى لا كَأَحَدٍ مِنَ الوَرَى.**

**(١٣٩) ـ** الله تعالی هم په غوسه کیږي او هم راضي کیږي، خو دده دا غوسه کول او راضي کیدل د هیڅ یو مخلوق په شان نه دي.

*(*)*

**(١٤٠) ـ وَنُحِبُ أَصْحابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلا نُفَرِّطُ في حُبِ أَحَدٍ مِنْهُمْ، وَلا نَتَبَرَّأُ مِنْ أَحَدٍ مِنْهُم. وَنُبْغِضُ مَنْ يُبْغِضُهُمْ، وَ بِغَيْرِ الْحَقِ لا نَذْكُرُهُمْ؛ وَ نَرى حُبَّهُمْ ديناً وَإِيماناً وَإِحْساناً، وَ بُغْضَهُمْ كُفْراً وَ شِقاقاً وَ نِفاقاً وَ طُغْياناً.**

**(١٤٠) ـ** مونږ د نبي صلی الله علیه وسلم له یارانو سره مینه لرو، خو د هیڅ یوه په مینه کې افراط نه کوو، او له هیڅ یوه څخه یې بیزاري نه کوو، او هر څوک چې له هغوی سره کینه وکړي مونږ له هغه سره کینه ساتو، او مونږ دوی ټول په ښې یادونې سره یادوو، مونږ له هغوی سره مینه کول دین، ایمان، او احسان بولو، او له هغوی سره کینه کول کفر، بد بختي، نفاق او سرکښي بولو.

**(١٤١) ـ وَ نُثْبِتُ الخِلافَةَ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلاً لأَبي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، تَفْضيلاً وَ تَقْديماً عَلَى جَميعِ الأُمَّةِ، ثُمَّ لِعُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، ثُمَّ لِعُثْمانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، ثُمَّ لِعَلِيِّ بْنِ أَبي طالِبٍ رِضْوانُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعينَ. وَهُمُ الْخُلَفاءُ الرَّاشِدونَ، وَالأَئِمَّةُ المَهْدِيُّونَ، الَّذينَ قَضَوْا بِالحَقِّ وَكانُوا بِهِ يَعْدِلونَ.**

**(١٤١) ـ** مونږ له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه وروسته لدې امله چې ابوبکر رضي الله عنه له ټول امت څخه غوره دی خلافت د هغه حق بولو، او له هغه څخه وروسته خلافت د عمر رضي الله تعالی عنه او له هغه څخه وروسته د عثمان رضي الله تعالی عنه او له هغه څخه وروسته د علي رضي الله تعالی عنه حق بولو.

دا لویان ټول راشدین امامان او هدایت موندونکي امامان وو چې په حق او رښتیا توګه یې حکومت کړی او په همدې حق او رښتینولۍ سره یې ټینګ عدالت کړی دی.

**(١٤٢) ـ وَإِنَّ العَشَرَةَ الَّذينَ سَمَّاهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَشْهَدُ لَهُمْ بِالجَنَّةِ كَما شَهِدَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَقَوْلُهُ الحَقِّ، وَهُمْ: أَبوبَكْرٍ وَ عُمَرُ وَ عُثْمانُ وَ عَلِيٌّ وَ طَلْحَةُ وَ الزُّبَيْرُ وَ سَعْدٌ وَ سَعيدٌ وَ عَبْدُ الرَّحْمنِ بْنُ عَوْفٍ وَ أَبوعُبَيْدَةَ بْنُ الجَرَّاحِ، وَ هُوَ أَمينُ هذِهِ الأُمَّةِ، رِضْوانُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعينَ.**

**(١٤٢) ـ** او هغه لس کسان چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نومولي دي چې دا جنتیان دي او دوی ته یې د جنت ګواهی او زیری ورکړی، مونږ هم شاهدي وایو چې هغوی په جنت کې دي، ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا رښتونې ده، چې نومونه یې په لاندې توګه بیانیږي:

١ ـ ابو بکر الصدیق رضي الله عنه.
٢ ـــ عمر رضي الله عنه.
٣ ـــ عثمان رضي الله عنه.
٤ ـــ علي رضي الله عنه.

٥ ــ طلحه رضي الله عنه.
٦ ــ زبير رضي الله عنه.
٧ ــ سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه.
٨ ــ سعيد بن زيد رضي الله عنه.
٩ ــ عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه.
١٠ــ ابو عبيدة بن جراح رضي الله عنه چې د دې امت د امين لقب ورکړل شوی دی.

**(١٤٣) ـ وَمَنْ أَحْسَنَ الْقَوْلَ في أَصْحابِ النَّبيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَزْوَاجِهِ الطَّاهِرَاتِ مِنْ كُلِّ دَنَسٍ، وَ ذرِّيَّاتِهِ المُقَدَّسِينَ مِنْ كُلِّ رِجْسٍ، فَقَدْ بَرِئَ مِنَ النِّفاقِ.**
**(١٤٣) ـ** هر څوک چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم، د هغه یاران او د هغه سپیڅلي میرمنې او اولادونه له نیکۍ څخه پرته یاد کړي له نفاق څخه خالي ندی.

*(*)*

**(١٤٤) ـ وَ عُلَماءُ السَّلَفِ مِنَ الصَّحابَـةِ وَ التَّابِعِينَ وَ مَنْ بَعْدَهُمْ مِنْ أَهْلِ «الخَيْرِ» وَ«الأَثَرِ»، وَ أَهْلِ «الفِقْهِ» وَ«النَّظَرِ»، لا يُذْكَرُونَ إلاَّ بالجَميلِ، وَ مَنْ ذَكَرَهُمْ بِسُوْءٍ فَهُوَ عَلَى غَيْرِ السَّبِيْلِ.**
**(١٤٤) ـ** اصحاب کرام، تابعين او تبع تابعين، او لدوی څخه وروسته تیر شوي اهل عرفان، محدثين، مجتهدين فقهاء، او د اصول دين علماء له نیکی څخه پرته نه یادیږي، او هر چا چې په بدی یاد کړل د مسلمانانو له لیارې څخه وتلی دی او پر خطا باندی روان دی.[١]

**(١٤٥) ـ وَلا نُفَضِّلُ أَحداً مِنَ الأَوْلِياءِ عَلى أَحَدٍ مِنَ الأَنْبِيـاءِ. وَ نَقولُ: نَبِيٌّ واحِدٌ أَفْضَلُ مِنْ جَميعِ الأَوْلِـياءِ،**
**(١٤٥) ـ** مونږ هیڅ ولي له هیڅ پیغمبر څخه غوره نه بولو، او وایو چې یو نبي له ټولو اولیاو څخه غوره دی.

**(١٤٦) ـ وَ نُؤْمِنُ بما جاءَ مِنْ كَرَامَاتِهِمْ، وَصَحَّ عَنِ الثِّقَاتِ مِنْ رِوايَاتِهِمْ.**
**(١٤٦) ـ** مونږ د اولیاؤ په کومو کرامتونو چې په ثقه روایتونو سره مونږ ته رسیدلي دي ایمان لرو.

*(*)*

**(١٤٧) ـ وَ نُؤْمِنُ بأَشْرَاطِ السَّاعَةِ مِنْها: خُروجُ الدَّجَّالِ، وَ نُزُولُ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلامُ مِنَ السَّماءِ، وَ بطُلُوعِ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِها، وَ خُروجِ دَابَّةِ الأَرْضِ مِنْ مَوْضِعِها.**

---

[١] **د مسلمانانو لاره:** د قرانکریم دې آیت ته اشاره ده چې فرمایي: **وَ مَنْ يَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا (١١٥)** او هر څوک چه مخالفت کوي له رسوله وروسته له هغه چه ښکاره شوه ده ته سمه لاره او تابع شي(لاړ شي) بی له لارې د مومنانو نو وبه ګرځوو مونږ دی هغه لوري ته چې دی ګرځيدلی دی او داخل به کړو مونږ دی جهنم (دوزخ) ته او بد ځای د ورتلو دی (دا دوزخ).
**د مسلمانانو له لارې څخه مراد:** د اصحاب کرامو رضي الله عنهم اجمعين، او د تابعينو او د هغوی د تابعينو او د اهل سنت والجماعت د مجتهدو امامانو لاره ده.

**(۱٤۷) ـ** مونږ د قیامت په علامو ایمان لرو، چې له هغو علامو څخه د دجال وتل، له آسمان څخه د عیسی علیه السلام ښکته کیدل، له لویدیځ څخه د لمر ختل، او د (دَابَّةُ الأرض) له خپله ځایه څخه وتل دي.

**(۱٤۸) ـ وَلا نُصَدِّقُ كاهِناً وَلا عَرَّافاً،**
**(۱٤۸) ـ** مونږ د هیڅ غیب ویونکي او وړاند ویونکي خبرې رښتونې نه بولو.

**(۱٤۹) ـ وَلا مَنْ يَدَّعي شَيْئاً بِخِلافِ الكِتابِ وَ السُّنَّةِ وَ إِجْماعِ الأُمَّةِ.**
**(۱٤۹) ـ** او د هغه کس خبره هم نه منو چې د قرآنکریم، سنت، او د امت د اجماع پر خلاف ادعاء وکړي.[1]

**(۱٥۰) ـ وَ نَرى الجَماعَةَ حَقًّاً وَ صَواباً، وَ الفُرْقَةَ زَيْغاً وَ عَذاباً،**
**(۱٥۰) ـ** مونږ پدې عقیده لرو چې د مسلمانانو ستر او عظیم جماعت (سواد اعظم)[2] په حقه او صواب دی، او پدې عقیده لرو چې له سواد اعظم (د مسلمانانو ستر او عظیم جماعت) څخه جلا کیدل لاره ورکول او عذاب دی.

*(*)*

**(۱٥۱) ـ وَ دِينُ اللَّهِ فِي السَّماءِ وَ الأَرْضِ واحِدٌ، وَ هُوَ دِينُ الإِسْلامِ، كَما قالَ اللَّهُ تَعالى: إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الإِسْلامُ. وَقالَ تَعالى: وَ مَنْ يبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلامِ دِيناً فَلَنْ يقْبَلَ مِنْهُ. وَقالَ تَعالى: وَرَضِيْتُ لَكُمُ الإِسْلامَ دِينَاً.**
**(۱٥۱) ـ** په ټولو آسمانونو او ځمکه کې د الله دین یو دین دی چې هغه اسلام دی، څرنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: **إِنَّ الدّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَام،** بیشکه دین (چې په ادیانو کښې غوره دی) په نزد د الله دین د اسلام (یعنی محمدی شریعت) دی. (آل عمران: ۱۹) او هدارنګه فرمایي: **وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ**

---

[1] **د امت اجماع:** په عقیدوي او فقهي مسایلو کې د اسلامي امت د مجتهدینو اجماع ته ویل کیږی.
د مثال په توګه: جنت او دوزخ د امت په اجماع سره تل پاتي دي، او هیڅ کله به هم فنا نشي، د نبي صلی الله علیه وسلم د مرقد زیارت کول د امت د اجماع پر بناء مستحب دي، مُتعه یا لنډ مهاله (موقتي نکاح) د امت په اجماع سره حرامه ده، په یوه لفظ باندې درې طلاقه د امت په اجماع سره لازم ګرځي، او ښځه په خاوند باندې حراموي، د اسلامي امت له مجتهدینو څخه چې امام اعظم ابو حنیفه، امام مالک، امام شافعي او امام احمد بن حنبل دي د یوه کس پیروی کول پدې وخت کې واجبه ده، او له هغوي څخه وتل حرام دي، او د تراویح د لمانځه د رکعتونو اقل شمیر د امت په اجماع سره شل رکعته دی.
نو هر څوک چې د دې اجماع خلاف دعوی وکړي، او ووايي چې: جنت یا دوزخ فنا کیږي، یا د نبي صلی الله د مرقد د زیارت په نیت ورتلل حرام دي، یا موقتی نکاح (مُتعه) حرامه نه ده، یا په یوه لفظ باندې درې طلاقه یو طلاق دی، یا د امت له مجتهدینو څخه (امام اعظم ابوحنیفه، امام مالک، امام شافعي، امام احمد بن حنبل) د یوه امام پیروي کول واجب ندي، یا تراویح اته یا دولس رکعته دي، داسې وینا د امت له اجماع سره مخالفت دی، نوځکه مونږ د هغه وینا د غیب ویونکو، فالبینانو او وړاند ویونکو د وینا پشان مردوده ګڼو.
[2] **سواد اعظم:** د مسلمانانو د ستر او عظیم جماعت (اهل سنت والجماعت) پیروان، چې د مسلمانانو قاطع اکثریت دی، او له هغه څخه مراد د اهل سنت والجماعت د مجتهدینو عالمانو بر حقه اجماع ده. یعني مونږ د اهل سنت والجماعت د مجتهدینو امامانو اجماع پر حقه او صواب ګڼو، او د هغوی له اجماع څخه بیلتون ګمراهي او عذاب ګڼو. رضوان الله تعالی علیهم اجمعین.

**الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ.** او هر څوک چه وغواړي غير له اسلامه (چه توحيد او د الله احکامو ته انقياد دی) بل دين نو له سره به ونه مانه شي له ده نه.(آل عمران: ٨٥) او همدارنګه فرمايي: **وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا.** او غوره کړ ما تاسې ته اسلام له جهت د دين (ډير پاکيزه په ټولو اديانو کښی) (مائده: ٣).

**(١٥٢) ـ وَ هُوَ بَيْنَ الغُلُوِّ وَالتَّقْصيرِ،**
**(١٥٢) ـ** اسلام د غُلُو او تفريط تر منځ دی.

**(١٥٣) ـ وَ بَيْنَ التَّشْبيهِ وَالتَّعْطيلِ،**
**(١٥٣) ـ** او د تشبيه او تعطيل تر منځ دی.[1]

**(١٥٤) ـ وَ بَيْنَ الجَبْرِ وَ القَدَرِ،**
**(١٥٤) ـ** او د جبر او قدر تر منځ دی.[2]

**(١٥٥) ـ وَ بَيْنَ الأَمْنِ وَ اليَأْسِ.**
**(١٥٥) ـ** او د ډاډ (امن) او ناهيليتوب (نا اميدی) تر منځ دی.[3]

*(*)*

**(١٥٦) ـ فَهذا دينُنا وَاعْتِقادُنا، ظاهِراً وَ باطِناً. وَ نَحْنُ نَبْرَأُ إِلى اللَّهِ تَعالى مِمَّنْ خالَفَ الَّذي ذَكَرْناهُ، وَبَيَّناهُ،**
**(١٥٦) ـ** نو دغه ټولګه (مجموعه) په ظاهر او په باطن کې زمونږ دين او اعتقاد دی، او د الله تعالی په حضور کې مونږ له هغو کسانو څخه چې له يادو شوو او بيان شوو څيزونو سره مخالفت لري بې زاره يو.

**(١٥٧) ـ وَنَسْأَلُ اللَّهَ تَعالى أَنْ يُثَبِّتَنا عَلَيْهِ وَ يَخْتِمَ لَنابه، وَ يَعْصِمَنا مِنَ الأَهْواءِ المُخْتَلِطَةِ وَ الآراءِ المُتَفَرِّقَةِ، وَ المَذاهِبِ الرَّدِيَّةِ، كَالمُشَبِّهَةِ وَ الجَهْمِيَّةِ وَ الجَبْرِيَّةِ وَ القَدَرِيَّةِ وَ غَيْرِهِمْ مِمَّنْ خالَفَ السُّنَّةَ وَ الجَماعَةَ، وَ اتَّبَعَ البِدْعَةَ وَ الضَّلالَةَ، وَ نَحْنُ مِنْهُمْ بَراءٌ، وَهُمْ عِنْدَنا ضُلَّالٌ وَ أَرْدِياءُ. وَ اللَّهُ أَعْلَمُ بِالصَّوابِ، وَ إِلَيْهِ المَرْجِعُ وَ المَآبُ.**
**(١٥٧) ـ** او له الله تعالی څخه غواړو چې مونږ پدې عقيدی کلک ولري، او زمونږ ژوند په همدې عقيدې سره پای ته ورسوي، او مونږ له باطل سره ګډ شوو خواهشاتو او خورو ورو نظرياتو څخه، او له هلاک کوونکو مذاهبو څخه لکه مُشَبّهَه، جهميه، جبريه، قدريه او داسی نورو څخه چې له اهل السنت والجماعت سره يې مخالفت کړی دی، او د بدعت او ګمراهی لاره يې غوره کړې ده په خپل امن او پناه کې وساتي، مونږ له هغو ټولو څخه بيزاره يو، او هغوی زمونږ په نزد لار

---

[1] **تشبيه:** د بندګانو له صفاتو سره د الله تعالی د صفاتو مشابه کولو ته وايي. او **تعطيل:** د الله تعالی د صفاتو ردول دي.

[2] **جبر:** داسي ګڼلو ته وايي چې مخلوقات په خپلو اعمالو کې محض مجبور دي. او **قدر:** يعني هر مخلوق خپل اعمال په خپله پيدا کوي.

[3] **امن:** يعني له الله تعالی څخه بې ويرې کيدل. او **يأس:** دالله تعالی له رحمت څخه نا هيلي کيدل.

ورکي او هلاک کیدونکي دي. الله تعالی په صواب باندې تر ټولو ښه پوهیږي او په وروستي پړاو کې هغه ته ورتلونکي یو.

*(*)*

(تم بحمد الله)

www.Taleemulislam-Radio.com